اَلصَّرْفُ اُمُّ الْعُلُوْمِ وَالنَّحْوُ اَبُوْهَا

اَلصَّرْفُ لِلنَّاشِئِيْنَ

اعداد و ترتیب:

مولوي محمد حسن جان عفا الله عنه

خادم ومدرس بجامعة العلوم الاسلامية العثمانية

کال: ۱۴۴۵ھ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب پیژندنه

- د کتاب نوم: الصرف للناشئين
- اعداد وترتيب: مولوي محمد حسن جان
- کمپوز او ډېزاين: فضل غني (فيصل)
- تصحيح: اساتذة المدرسة
- خپرندوی: جامعة العلوم الاسلامية العثمانية
- د اړيکو شمېرې: ۰۳۰۲۰۰۴۲۴۵-۰۷۰۳۲۳۹۱۴۰
- د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
- د چاپ کال: ۱۴۴۵هـ ق

د کتاب ټول چاپي حقوق په خپروونکي پوري اړه لري.

فهرست

عنوان	صفحه

مقدمه..... ۱
دصرفو په علم کي استعمالېدونکي عربي اصطلاحات..... ۴
کلمه او د هغې قسمونه..... ۱۲
د اسم بيان..... ۱۲
دفعل بيان..... ۱۸
دحرف بيان..... ۲۱
د عربي کلماتو مېزان..... ۲۳
حروف اصليه او زائده..... ۲۴
ثلاثي، رباعي او خماسي..... ۲۵
شپږ اقسام..... ۲۶
اووه اقسام..... ۳۰
د اسم اقسام..... ۳۷
د فعل ماضي بيان..... ۴۰
د فعل مضارع بيان..... ۵۰
د نفي تاکيد (لِـلَنْ) بيان..... ۶۰
د فعل جحد بيان..... ۶۶
د فعل مستقبل مؤکد بلام ونون تاکيد بيان..... ۷۰
د فعل امر بيان..... ۷۵
د فعل نهي بيان..... ۸۴
اسم او د هغه د مشتقاتو بيان..... ۹۴
(۲۲)مشهور بابونه..... ۱۱۲

مقدمه

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، اَلرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ، والصَّلَوة والسَّلامُ عَلَى رَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْكَرِيْمِ، وَعَلَى آلِهِ وصَحْبِهِ الطَّيِّبِيْنَ، وَبَعْدُ:

څرنګه چې د هر علم د مقصد څخه مخکې طالب العلم ته د هغه علم تعريف، موضوع، غرض، واضع او مقام پېژندل ضروري دي.

نو تر هر څه دمخه ددې مقصد د تر لاسه کولو په موخه لومړی د علم صرف لنډه پېژندنه بيا ددې علم اصطلاحات او د هغه څخه وروسته ددې علم موضوعات ذکر کېږي.

د علم الصرف تعريف: صرف په لغت کې ګرځېدلو ته وائي او په اصطلاح کې (عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ الصِّيْغَةِ مِنْ حَيْثُ الْأَصْلِ وَالْبِنَآءِ وَالتَّعْلِيْلِ)

ژباړه: علمُ الصرف د څو قوانينو زده کړې ته ويل کيږي، چې په هغه سره د صيغې پېژندنه، د الفاظو ګردان او د يوې صيغې څخه د بلې صيغې د جوړولو طريقه پېژندل کيږي.

د علم الصرف موضوع: د عربي ژبې الفاظ دي.[1]

د علم الصرف غرض او فائده: ددغه علم ګټه او فائده عربي لفظونه صحيح ادا کول.[2]

---

[1]: الكلمة من حيث الاصل والبناء والتعليل.

[2]: صيانة الذهن عن الخطاء في الصيغة.

د علم الصرف واضع: د اکثرو علماوو په وینا حضرت معاذ بن مسلم الهروي رحمته الله علیه دی.[1]

د علم الصرف مقام: داهمیت له کبله علم الصرف د ټولو علومو لپاره د مور مقام لري او د عربي ژبي مشهوره مقوله ده: « اَلصَّرْفُ اُمُّ الْعُلُوْمِ»

[1]: د علم الصرف واضع د ځینو علماؤ په نظر امام ابو حنیفه رحمته الله علیه دی او د ځینو په نظر ابو عثمان المازني رحمته الله علیه دی.

(١) فصل

دعربي ژبي اصطلاحات

دصرفو په علم کي استعمالېدونکي عربي اصطلاحات

لغت:

(لغت) ژبي ته ويل کېږي، لکه فارسي لغت، عربي لغت...

اصطلاح:

(اصطلاح) ديوې خاصي طائفې پر يوه مسئله سره اتفاق کېدل لکه د نحويانو اصطلاح (كُلُّ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٌ) فاعل همېشه مرفوع وي يا د فقهاؤ اصطلاح د (صلوة) په اړه، چي ځانګړو اذکارو او حرکتونو ته ويل کيږي.

تعريف:

(تعريف) د يوه شي پېژندګلوي ته ويل کيږي، لکه د علم تعريف د کلمې تعريف او داسي نور.

تقسيم:

تقسيم وېشلو ته ويل کېږي، لکه د عربي ژبي کلمات وېشل اسم، فعل اوحرف ته.

قسم:

قسم د وېشل سوي شي يوې برخې ته ويل کېږي، لکه عربي ژبه درې قسمونه لري يو قسم يې اسم دی.

مُقْسَم: ویشل سوي شي ته ویل کیږي لکه: کلمه واسم ، فعل اوحرف ته تقسیم سوېده.

حرکت:

زور، زېر، او پېښ ته ویل کیږي، لکه بَ، بِ، بُ.

متحرک:

هغه حرف ته ویل کیږي، چي حرکت ورباندي راغلی وي.

ضمه:

پېښ ته ویل کیږي او په لیکلو کي یې شکل (ـُـ) دی.

کسره:

زېر ته ویل کیږي او په لیکلو کي یې شکل (ـِـ) دی.

فتحه:

زورته ویل کیږي او په لیکلو کي یې شکل (ـَـ) دی.

سکون:

د حرکت نه شتون ته ویل کیږي.[1]

[1]: جزم د لغت له اړخه د سکون نوم دی، البته اصطلاحاً جزم تر سکون عام دی، یعني لکه څنګه چي د حرکت حذف ته ویل کیږي، همدا راز په معتلاتو کي د حرف علت حذف ته هم جزم ویل کیږي.

ساکن:

هغه حرف ته ویل کیږي چي سکون یا وړغندی ور باندي وي، لکه د (اَبْ) پر (ب) باندي .

مضموم:

هغه حرف ته ویل کیږي چي ضمه (پېښ) ورباندي وي لکه: په نَصَرْتُ پر(ت) باندي.

مکسور:

هغه حرف ته ویل کیږي چي کسره (زېر) ورباندي وي، لکه: د (نَصَرْتِ) پر (ت) باندي.

مفتوح:

هغه حرف ته ویل کیږي چي فتحه (زور) ورباندي وي لکه د (نَصَرْتَ) پر (ت) باندي.

تنوین:

دوو زورونو، دوو زېرونو او دوو پېښونو ته ویل کیږي،[1] لکه : (ـً) (ـٍ) (ـٌ).

[1]: د تنوین پورتنۍ تعریف د مبتدی شاګردانو لپاره دی، البته تنوین اصلاً و نون ساکن ته ویل کیږي، چي د ماقبل حرف حرکت ورسره نښلول کېږي، لکه زیدٌ، زیدُنْ ویل کېږي.

منون:

هغه حرف ته ویل کیږي چي تنوین ورباندي وي، مثال: درسٌ، کتابٌ، حمدٌ.

تشدید:

دیوه جنس څخه دوه حرفه د یوه حرف په شکل لیکل او په ویلو کي دوه ویل، چي اول حرف ساکن او دوهم متحرک وویل سي، لکه د (رَبٌّ) پر (ب) باندي او په لیکلو کي یې علامه (ّ) ده.

مشدد:

هغه حرف ته ویل کیږي چي تشدید ورباندي وي، لکه: مُدَرِّسٌ، رَبٌّ.

زمانه:

وخت ته ویل کیږي او په عربي ژبه کي زمانې درې (٣) دي: ماضي، حال، استقبال.

ماضي:

تیري سوي زمانې ته ویل کیږي، لکه: پرون ورځ.

حال:

رواني زمانې ته ویل کیږي، لکه: اوس.

مستقبل یااستقبال:

راتلونکي زمانې ته ویل کیږي، لکه: سبا ورځ .

فعل:

فعل کار ته ویل کیږي، لکه: نَصَرَ (هغه یوه سړي مرسته وکړه).

فاعل:

کار کوونکي ته ویل کیږي، لکه: نَصَرَ زَيْدٌ (زید مرسته وکړه) نَصَرَ فعل او زَيْدٌ فاعل دی.

مفعول:

مفعول هغه ته ویل کیږي چي د فاعل کار پر واقع سوی وي، لکه: نَصَرَ خَالِدٌ اَنَسَ (خالد د انس سره مرسته وکړه) په دغه مثال کي نَصَرَ فعل، خَالِدٌفاعل او اَنَسَ مفعول دی.

فعل معلوم:

هغه فعل ته ویل کیږي چي فاعل یې معلوم وي، فعل معلوم ته فعل معروف هم وایي او په دې سبب ورته معلوم یا معروف فعل ویل کیږي، چي فاعل یې معلوم وي، چي مذکر دی او که مؤنث؟ او همدا راز یو دی که دوه دي یا زیات؟، لکه: نَصَرَخَالِدٌاَنَسَ (خالد د انس سره مرسته وکړه) په مذکوره جمله کي مرسته کوونکی معلوم دی، چي یو نفر او هغه هم نارینه دی.

فعل مجهول:

مجهول فعل هغه فعل ته ویل کېږي چي فاعل یې په یاد سوي ډول نه وي معلوم، لکه: ضُرِبَ اَحْمدُ (احمد ووهل سو).

مثبت فعل:

هغه فعل ته ویل کېږي، چي په هغه کي د یو کار کېدل ثابت وي، لکه: نَصَرَ نُعْمَانُ (نعمان مرسته وکړه).

منفي فعل:

هغه فعل ته ویل کېږي، چي په هغه کي د یو کار کېدل نفي وي، لکه: مَاضَرَبَ اُسْتَاذُ (استاذ وهل نه دي کړي).

متکلم:

خبري کونکي ته ویل کیږي، لکه: نَصَرْتُ (ما مرسته وکړه) مؤنث ته یې (متکلمه) ویل کیږي .

مخاطب:

هغه کس ته ویل کیږي، چي متکلم خبري ورسره کوي، لکه: نَصَرْتَ (تا مرسته وکړه) مؤنث ته یي (مخاطبه) ویل کیږي او د مخاطب بل نوم حاضر هم دی .

غائب:

هغه کس ته ویل کیږي چي د هغه په اړه خبري کیږي، لکه: نَصَرَ (هغه یوه کس مرسته وکړه) مؤنث ته یې (غائبه) ویل کیږي.

واحد:

یوه ته ویل کیږي او بل نوم یي (مفرد) دی.

تثنیه:

دوو ته ویل کیږي او بل نوم یې (مثنی) دی .

جمع:

تر دوو زیات ته ویل کیږي او بل نوم یي (مجموع) دی.

مذکر:

نارینه ته ویل کیږي.

مؤنث:

ښځینه ته ویل کیږي.

قبل:

مخته او (بعد) وروسته ته ویل کیږي .

ماقبل اخر:

هغه حرف ته ویل کیږي، چي د اخري حرف څخه مخته وي.

(٢) فصل

- د عربي کلمې درې قسمونه
- د اسم تعريف او علامې
- د فعل تعريف او علامې
- د حرف تعريف او علامې

کلمه او د هغې قسمونه

کلمه: هغه لفظ ته ویل کیږي چي د یوې معنی لپاره ایښودل سوی وي[1]، لکه: رَجُلٌ، كِتَابٌ، قَلَمٌ. او کلمه پر درې ډوله ده: (۱) اسم (۲) فعل (۳) حرف.

د اسم بیان

اسم په لغت کي بُلندی (لوړوالي) ته وايي او په اصطلاح کي اسم هغه کلمه ده چي د استعمال پر وخت د بلي کلمې څخه یوازي د معنی لپاره کفایت کوي او د درو[2] (۳) زمانو څخه د یوې سره هم تړاو نه لري، لکه: قُرْآنٌ، اَلتَّلْمِيْذُ، شَهِيْدٌ.

د اسم علامات:

د اسم دپېژندلو لپاره مشهوري علامې اووه لس دي. (۱) چي د یوې کلمې په شروع کي حروف جاره راسي حروف جاره اوولس (۱۷) دي (ب، ت، ک، ل، و، مذ، منذ، خلا، رُبَّ، حاشا، مِنْ، عدا، فی، عن، علی، حتی، الی).

---

[1]: **فائده**: د کلمې او مفرد تر مابین فرق نسته، بلکه د دواړو مقصد یو شی دی

[2]- فائده: درې زمانې ماضي، حال او استقبال ته ویل کېږي.

شعر

با و تا و کاف ولام و واو و منذ و مذ خلا

رب، حاشا، من، عدا، في، عن، على، حتى، الى

مثالونه يې په لاندي ډول دي:

ب: بِرَبِّ

ت: تَاللهِ

ک: كَمَعَادِنِ

ل: لِيَوْمٍ

و: وَالَّيْلِ

منذ: مُنْذُ سَاعَةٍ

مذ: مُذْ نِصْفِ سَاعَةٍ

خلا: خَلَا بَكْرٍ

رُبَّ: رُبَّ رَجُلٍ

حاشا: حَاشَا خَالِدٍ

من: مِنْ مَدِيْنَةٍ

عدا: عَدَا زَيْدٍ

فی: فِيْ بَيْتٍ

عن: عَنْ قَرِيْبٍ

على: عَلَى سَقْفٍ

حتی: حَتَّی الصَبَاحِ

الی: اِلَی الْبَیْتِ

(۲) چې د یوې کلمې په شروع کې الف ولام راغلی وي، لکه: اَلْحَمْدُ، اَلرَّحْمٰنُ، اَلرَّحِیْم.

(۳) چې د یوې کلمې په شروع کې (میم زائده) وي،لکه: مَنْصُوْرٌ، مَعْلُوْمٌ، مَجْهُوْلٌ.

(٤) چې د یوې کلمې په آخر کې (تنوین) وي، لکه: حَمْدٌ، شَمْسٌ، کتابٌ.

(٥) پرکومه کلمه چی (حروف مشبه بالفعل) راغلي وي او حروف مشبه بالفعل شپږ دي چې په لاندې ډول دي: اِنَّ، اَنَّ، کَاَنَّ، لکِنَّ، لَیْتَ، لَعَلَّ، مثالونه:

اِنَّ: اِنَّ اللّٰهَ

اَنَّ: اَنَّنِیْ قَائِمٌ

کَاَنَّ: کَاَنَّکَ عَالِمٌ

لکِنَّ: لکِنَّ اللّٰهَ

لَیْتَ: لَیْتَنِیْ

لَعَلَّ: لَعَلَّ بَکْراً مَوْجُوْدٌ

(۶) چې د یوشي او یا یو چا لپاره نوم وي، لکه: زُبَیْرٌ، اَحْمَدُ،

خَالِدٌ، بَيْتٌ، كُرْسِيٌّ.

(۷) تثنيه وي: لکه: ضَارِبانِ، ضَارِبَيْنِ، قَلَمَانِ، شَاهِدَانِ.

د تثنيې د پېژندلو نښه:

د تثنيې د پېژندلو علامه داده چې د اسم په آخر کې (الف) يا (ي) ماقبل مفتوح راسي ورپسې (نون) مکسوره وي په دې شرط چې دکلمې په شروع کې حروف (اتين) نه وي، لکه: نَاصِرَانِ، نَاصِرَيْنِ، مُحْسِنَانِ، مُحْسِنَيْنِ. (۸)

جمع وي، لکه: نَاصِرُوْنَ، نَاصِرِيْنَ، مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمِيْنَ، رِجَالٌ.

د جمع سالم د پېژندلو نښه:

د کوم اسم په آخر کې چې (واو) ماقبل مضموم يا (يا) ماقبل مکسور او (نون) مفتوحه وي په دې شرط چې دکلمې په شروع کې حروف اتين نه وي، لکه: ناصِرُوْنَ، ناصِرِيْنَ، محسنُونَ، مُحْسِنِيْنَ [1].

(۹) تصغير وي: لکه: عُبَيْدٌ، قُرَيْشٌ، رُجَيْلٌ.

د (تصغير) دکلمې نښه:

اول حرف مضموم دوهم مفتوح دريم ځای (ياساکنه) د تصغير علامه ده، لکه: قُرَيْشٌ، بُعَيْدٌ، قُبَيْلٌ.

[1]: حروف اتين د مادې د حروفو څخه اضافه وي او د صرفو په علم کې ورته زوائد اشتقاق ويل کېږي.

(١٠) چي د يوې کلمې په آخر کي (يا) د نسبت راغلې وي، لکه: بغدادیٌّ، قندهاریٌّ، مدنیٌّ، بصریٌّ.[١]

(١١) موصوف وي، (موصوف) هغه کلمې ته ويل کيږي، چي په بله کلمه سره يې صفت وسي، لکه: رأيتُ رجلاً عالماً، زيدٌ رجلٌ رشيدٌ.

(١٢) چي د يوې کلمې په آخر کي الف مقصوره راسي، لکه: بُشْرَىٰ، ضُرْبَىٰ.

فائده: (الف مقصور) هغه الف ته ويل کيږي چي په آخر کي وي تر ده وروسته همزه او ساکن حرف نه وي، لکه: ضُربَىٰ، حُبَلَىٰ، سُفْلَىٰ.

(١٣) چي د يوې کلمې په آخر کي (الف ممدوده) راسي، لکه: حُمَقَآءُ، فُقَرَآءُ، عُلَمَآءُ.

فائده: الف ممدوده هغه الف ته ويل کيږي چي تر ده وروسته متصل همزه اويا ساکن حرف وي، لکه: حَمْرَآءُ، فُقَرَآءُ، عُلَمَآءُ.

(١٤) جمع اقصی وي، لکه: دَوَآبُّ، مَسَاجِدُ، مَصَابِيْحُ.[٢]

---

[١]: د کومي کلمې په اخر کي چي د نسبت يا وي، هغه ته اسم منسوب ويل کيږي.

[٢]: جمع منتهی الجموع، جمع الجموع هم بلل کيږي. تعريف ئی په لاندي ډول دی. هغه جمع ويل کيږي چي نور جمع کيدای نسي يعنی جمع والئ ئې پوره سوی وي د مثال په توګه قَوْلٌ يوځل پر اقوال جمع کيږی او اقصی جمع ئي اقاويلُ ده.

د جمع اقصی د پېژندلو نښه:

جمع اقصی) هغه اسم ته ویل کیږي چي اول دوه حرفه ئې مفتوح دریم حرف (الف) د جمع اقصی علامه وي تر (الف) وروسته که یو حرف وو مشدد به وي، لکه: دَوَابٌّ که دوه حرفه وه اول مکسور دوهم د عامل دغوښتني موافق، لکه: مَسَاجِدُ او که تر الف وروسته درې حرفه وي، نو اول مکسور دوهم ساکن دریم د عامل د غوښتني موافق، لکه: مصابِيْحُ، منادِيْلُ.

(۱۵) چي د یوې کلمې په شروع کي (حروف ندا) راسي ، حروف ندا پنځه دي. (یا، ایا، هیا، ای، همزة) لکه : یااَللّٰه، یا رَحمن، اَیاخالد، اَیُّ عُمَرُ، هَیَااَحْمَدُ، آزَیْدُ.

(۱۶) چي دیوې کلمې په آخرکي(تا) مدوره چي په وقف کي په (ها) سره بدلیږي راسي، لکه: شَاهِدَةٌ، نَاصِرَةٌ.

(۱۷) چي دیوې کلمې اضافت بلي کلمې ته وسي، لکه: عَبْدُالرَّحْمَنِ، نَبِيُّنَا.

دفعل بيان

فعل په لغت کي کارکولو ته وايي او په اصطلاح کي هغه کلمه ده چي د استعمال پر وخت د بلې کلمې څخه يوازي د معنى لپاره کفايت کوي او د درو(٣) زمانو څخه د يوې يا دوو سره تړاو لري.

لکه: نَصَرَ(هغه يوه سړي مرسته وکړه) دغه فعل د تېر وخت سره تړاو لري.

يَنْصُرُ(هغه يو سړی مرسته کوي) دغه فعل د روان او راتلونکي وخت سره تړاو لري.

حَمِدَ (هغه يوه سړي حمداداء کړی) يعني په تېر وخت کي.

يَحْمَدُ (هغه يو سړی حمد وايي) يعني همدا اوس ياپه راتلونکي وخت کي.

د فعل علامات:

دفعل مشهوري علامې دوولس (١٢) دي

(١) چي د کلمې په شروع کي حروف اتين (ا، ت، ي ، ن) راغلي وي، لکه : يَنْصُرُ، تَنْصُرُ، أَنْصُرُ، نَنْصُرُ.

(٢) چي د کلمې په شروع کي حرف (قد) راسي: لکه: قَدْاَفْلَحَ، قدسَمِعَ اللهُ، قَدْخَابَ مَنْ دَسَّاهَا.

(٣) چي د کلمې په شروع کي (سين) راسي، لکه: سَيَعْلَمُوْنَ، سَنَكْتُبُ، سَيَغْلِبُوْنَ.

(٤) سوف راغلی وي، لکه: سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ، سَوْفَ يُعْطِيْكَ.

(٥) چي د يوې کلمې په شروع کي حروف جازمه راسي، لکه: لَمْ يَعْلَمْ، لَا تَقْتُلُوْا، اِنْ تَنْصُرْ.

فائده: حرف جزم هغه حرف ته ويل کېږي چي د فعل مضارع په شروع کي راسي په اخر کي جزم کوي، حروف جوازم پنځه دي: (لَمْ، لَمَّا، لام امر، لام نهی، اِنْ شرطيه).

مثالونه يې په لاندي ډول دي.

لَمْ: لَمْ يَعْلَمْ

لَمَّا: لَمَّا يَضْرِبُوا

لام امر: لِيَنْصُرْ

لام نهی: لَا تَقْتُلُوا

ان شرطيه: اِنْ تَذْهَبْ اَذْهَبْ.

فائده: (لام امر) هغه (لام) ته ويل کېږي چي مکسور وي او فعل مضارع و امر ته اړوي، لکه: لِيَنْصُرْ او (لام نهي) هغه لام ته ويل کېږي چي کله د مضارع په شروع کي راسي، نو فعل مضارع د نهي په معنی سره اړوي، لکه: لَا تَضْرِبْ.

(٦) امر وي، لکه: اُنْصُرْ، اِضْرِبْ، اِعْلَمُوْا.

(٧) ماضی صيغه وي، لکه: نَصَرَ، جَعَلَ، تَرَکَ.

(۸) چي د کلمې په شروع کي يو حرف د حروف ناصبه څخه راسي.
حروف ناصبه څلور دي (اَنْ، لَنْ، كَيْ، اِذَنْ)
مثالونه:

اَنْ: اَنْ تَنْصُرَ

لَنْ: لَنْ نَبْرَحَ

كَيْ: كَيْ تَفْرَحَ

اِذَنْ: اِذَنْ اَذْهَبَ

(۹) چي د کلمې په شروع کي (لاء نفی) راسي. لاء نفي: هغه لاته ويل کېږي چي د فعل مضارع په شروع کي راسي د مضارع لفظ ته هيڅ تغيير نه ورکوي[1]، لکه: لا تَقْتُلُوْنَ، لا أَفْعَلُ.

(۱۰) چي دکلمې په اخر کي نون ثقيله راسي، لکه: اُنْصُرَنَّ، اِعْلَمَانِّ.

(۱۱) کله چي د يوې کلمې په اخر کي نون خفيفه راسي، لکه: اُنْصُرَنْ، اِعْلَمَنْ.

فائده: د نون ثقيله او نون خفيفه تعريفونه: هغه مشدد نون ته ويل کېږي چي د کلمې په اخر کي دتاکېد لپاره راوړل سوی وي او نون خفيفه هغه ساکن نون ته ويل کېږي چي دکلمې په اخر کي د تاکېد لپاره راوړل سوی وي.

---

[1]: لام نفي په معنی کي فعل مثبت په فعل منفي سره بدلوي.

(١٢) دکلمې په آخر کښې تاء ساکنه، لکه: نَصَرَتْ، عَلِمَتْ، کَسَبَتْ.

فائده: د فعل تفصيلي اقسام (٦) شپږ دي چې په لاندې ډول دي:

(١) **فعل ماضي** (٢) **فعل مضارع** (٣) **فعل نفي** (٤) **فعل جحد** (٥) **فعل امر** (٦) **فعل نهي**.

دحرف بيان

حرف په لغت کې طرف ته وايي، او په اصطلاح کې هغه کلمه ده چې داستعمال پروخت بلې کلمې ته اړتيا لري يوازې خپله نسې راتللای او د درو زمانو څخه په يوې زمانې پورې هم تړاو نلري، لکه: مِنْ، اِلٰى (سِرْتُ مِنَ الْبَيْتِ اِلَى الْمَدْرَسَةِ)

د حرف علامه:

د حرف علامه په عربی ژبه کې داده چې نه د اسم او نه هم د فعل علامات پکښې موجود وي لکه: مِنْ، اِلٰى په دې مثال کې سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ اِلَى الْكُوْفَةِ.

(٣) فصل

(٦) اقسام

حروف اصلي

حروف زائده

فوائد

د عربي کلماتو مېزان

مېزان په لغت کي ترازو ته ويل کېږي او د صرفو په علم کي په (ف،ع،ل) ته ويل کېږي چي په هغه سره د عربي ژبې د کلماتو اصلي او زائده حروف معلومېږي.

وزن: د صرفو په علم کي هغه عمل ته ويل کېږي چي يوه کلمه د (ف،ع،ل) سره پرتله سي، ددې لپاره چي اصلي او زائده حروف راته معلوم سي.

موزون: د هغه کلمې نوم دی د کومي چي وزن معلوم سي، لکه:

(نَصَرَ – فَعَلَ)

↕ ↕

(موزون – مېزان)

او کله چي موږ (ن) د (ف)، (ص) د (ع) او (ر) د (ل) په مقابل کي سره اندازه کړو وزن بلل کېږي، لکه په لاندي شکل کي.

نَـــــصَـــــرَ

↕ ↕ ↕

فَـــــعَـــــلَ

حروف اصليه او زائده

حروف پر دوه ډوله دي:

حروف اصلي:

حروف اصلي د کلمې هغه حروفو ته ويل کيږي چې په وزن کي يې (ف،ع،ل) وي او د پېژندلو نښه يې داده چې د اسم او فعل د ګردانونو په ټولو صيغو کي راغلي وي.[1]

مثال: (نَ،صَ، رَ) حروف د نَصَرَيَنْصُرُ د باب اصلي حروف دي.[2]

حروف زائده:

هغه حروفو ته ويل کيږي چې په وزن کي يې (ف،ع،ل) نه وي او د پېژندلو نښه يې داده چې د اسم او فعل د تفصيلي ګردانونو په ځيني صيغو کي وي او په ځيني کي نه وي، لکه: اَکْرَمَ يُکْرِمُ په باب کي همزه په ماضي کي موجود ده، البته په نورو صيغو کي نسته او همدارنګه (ي،ت،و ...) چې د دغه نَصَرَيَنْصُرُ د باب په ټولو ګردانونو کي وجود نه لري.

---

[1]: د اسم او فعل په ټولو صيغو کي راتلل مطلب دادی چې د ماضي، مضارع، امر، نهي، جحد، نفي، اسم فاعل، اسم مفعول، اسم ظرف، اسم اله او اسم تفضيل د ګرانونو په هره هره صيغه لکه واحد، تثنيه، جمع، مذکر او مؤنث په ټولو صيغو کي موجود وي.

[2]: محترم استاد دي د نَصَرَ ماده درنو شاګردانو ته پر تخته وليکي او بيا دي د اسم او فعل په تفصيلي ګردانونو کي تحريراً تمرين وکړي. محترم استاد دي دغه ماده د طالبانو څخه د سوال او جواب په ډول په ټول ګردانونو کي مشق کړي.

ثلاثي، رباعي او خماسي

په کومه کلمه کي چي درې حروف اصليه وي هغه ته (ثلاثي) ويل کېږي او د پيژندلو نښه يې په وزن کي فا- عين او يولا م وي، لکه: زَيْدٌ پر وزن د فَعْلٌ او نَصَرَ پر وزن د فَعَلَ.

په کومه کلمه کي چي څلور حروف اصليه وي، هغه ته (رباعي) ويل کېږي او د پيژندلو نښه يې په وزن کي فا- عين او دوه لامه وي، لکه: جَعْفَرٌ پر وزن د فَعْلَلٌ او دَحْرَجَ پر وزن د فَعْلَلَ.

او په کومه کلمه کي چي پنځه حروف اصليه وي، هغه ته (خماسي) ويل کېږي او دپيژندلو نښه يې په وزن کي فا- عين او درې لامه وي، لکه: سَفَرْجَلٌ پر وزن د فَعَلْلَلٌ.

(۱) **فائده**: اسم جامد د حروف اصليه د تعداد په اعتبار پر درې قسمه دی: ثلاثي، رباعي او خماسي.

اسم مشتق او فعل د حروف اصليه د تعداد په اعتبار دوه قسمه دی، ثلاثي او رباعي.

د وزن د معلومولو طريقه:

کله چي وغواړو د يوې کلمې وزن ځان ته معلوم کړو، نو هغه کلمه چي موږ يې د وزن معلومولو قصد لرو، هغه د (ف،ع،ل) سره داسي برابره اېږدو چي د موزون او مېزان د حروفو عدد، حرکات او سکنات سره برابر سي، هغه حروف چي د (ف،ع،ل) سره برابر نه وي

هغه حروف زائده نومېږي.

د زائد حرف پر برابر په وزن کي بېرته هم هغه حروف راوړل کېږي چي په موزون کي وي، په دې شرط چي حرف زائد دماقبل حرف اصلي د جنس څخه نه وي، لکه: اَکْرَمَ پر وزن د اَفْعَلَ او که حرف زائد د ماقبل حرف اصلي د جنس څخه وي، بيا د حرف زائده په مقابل هغه سي حرف په وزن کي راوړل کېږي چي څنګه حرف د ماقبل اصلي حرف په مقابل کي وي ، لکه: صَرَّفَ پر وزن د فَعَّلَ.[1]

شپږ اقسام

د اسم مذکور درې اقسام (ثلاثي، رباعي او خماسي) او د فعل مذکور دوه اقسام (ثلاثي او رباعي) پر دوه-دوه قسمه دي: مجرد او مزيد فيه چي په دې سره داسم او فعل مجموعه اقسام شپږو ته رسېږي او د صرفو په اصطلاح کي شش اقسام ورته ويل کېږي، تفصيل يې په لاندي ډول دی:

(۱) **ثلاثي مجرد**:

د اسم او يا فعل هغه کلمې ته ويل کېږي چي د هغې په واحد کي کله (چي اسم وي) او يا د ماضي په اوله صيغه کي کله (چي فعل وي)

[1]-محترم استاد دي طالب العلمانو ته دوزن معلومولو طريقه ښه اجراء کړي او پر تخته او کتابچه کي دي زيات عربي کلمات ور وپيژني چي څنګه وزن کېږي.

تر درو اصلي حروفو زائد بل حرف نه وي، لکه: نَصَرَ پر وزن د فَعَلَ.

(۲) **ثلاثي مزيد فيه**:

د اسم او يا فعل هغه کلمې ته ويل کېږي چي د هغې په واحد کي کله (چي اسم وي) او يا د ماضي په اوله صيغه کي کله (چي فعل وي) تر درو اصلي حروفو زائد بل حرف وي، لکه: اَکْرَمَ پر وزن د اَفْعَلَ.

(۳) **رباعي مجرد**:

داسم او يا فعل هغه کلمې ته ويل کېږي چي د هغې په واحد کي کله (چي اسم وي) او يا د ماضي په اوله صيغه کي کله (چي فعل وي) تر څلور اصلي حروفو زائد بل حرف نه وي، لکه:دَحْرَجَ پر وزن د فَعْلَلَ.

(۴) **رباعي مزيد فيه**:

د اسم او يا فعل هغه کلمې ته ويل کېږي چي د هغې په واحد کي کله (چي اسم وي) او يا د ماضي په اوله صيغه کي کله (چي فعل وي) تر څلورو اصلي حروفو زائد بل حرف وي، لکه: تَدَحْرَجَ پر وزن د تَفَعْلَلَ.

(۵) **خماسي مجرد**: د

اسم هغه کلمې ته ويل کېږي چي د هغې په واحد کي تر پنځو اصلي حروفو زائد بل حرف نه وي، لکه: جَحْمَرِشٌ پر وزن د فَعْلَلِلٌ.

(۶) **خماسي مزيد فيه**:

د اسم هغه کلمې ته ویل کېږي چې د هغې په واحد کې تر پنځو اصلي حروفو زائد بل حرف وي، لکه: خَنْدَرِيْسٌ پر وزن د فَعْلَلِيْلٌ.

فائده: خماسي یوازې په اسم کې وي په فعل کې نسي راتلای.[۱]

[۱]: فائده: مجرد هغه کلمې ته ویل کېږي چې د زائده حروفو څخه خالي وي، لکه نَصَرَ پر وزن د فَعَلَ او مزید هغه کلمې ته ویل کېږي چې زائده حروف په کښې راغلي وي، لکه: اَکْرَمَ پر وزن د اَفْعَلَ.

(۴) **فصل** (۷) اقسام

صحیح

مهموز

مضاعف

مثال

اجوف

ناقص

لفیف

اووه اقسام

فائده: د هجا ټول حروف (۲۹) دي او پر درې ډوله دي:

اول: هغه حروف دي چي تغير او تبديل زيات پکښي راځي، دا ډول حروف درې دي (واو، الف، يا) چي مجموعه يې (واى) جوړيږي، دغه حروفو ته د علت حروف ويل کيږي؛ ځکه چي علت ناجوړۍ ته ويل کيږي او يو مريض شخص د مريضۍ پر مهال (واى واى) تر خوله راباسي د همدغه مناسبت لکبله دغه حروفو د (واى) ته د علت (مريضۍ) حروف ويل کيږي، او يا دا چي د دغو حروفو لکبله کلمه ناجوړه ګرځي او تعليل ته ضرورت پيدا کوي لهذا ورته د علت (ناجوړۍ) حروف ويل کيږي.

دوهم: هغه حروف دي چي لږ تغير او تبديل پکښي راځي، چي فقط يو حرف لري هغه (همزه) دی.

دريم: هغه حروف دي چي تغير او تبديل نه قبلوي دا ډول حروف پاته ټول حروف دي او دغه حروفو ته (صحيح) ويل کيږي، البته که صحيح حروف په يوه کلمه کي مکرر واقع سي، بيا څه ناڅه تغير قبلوي چي په دغه وخت کي بيا چي تضعيف ويل کيږي.

فائده: د همزه او الف تر مابين فرق:

همزه: هغه حرف ته ويل کيږي چي حرکت (زور، زېر، پېښ) تنوين او يا سکون باندي راغلی وي شکل که يې د الف غوندي وي او که د

(عين) د سر غوندي . لکه: اَاٰاُ، اٰاٰاٰ، اٰ، ءَءءُ، ءٰءٰءٰ، ءْ. او الف هغه حرف ته ويل کيږي چي نه حرکت لري او نه سکون لري بلکه د مخکي حرف دپاره مد واقع وي، لکه: قَالَ،سَالَ.

هفت (۷) **اقسام**:

هر اسم متمکن او فعل متصرف د حروفو په اعتبار اووه قسمونه لري چي په لاندي ډول دي: صحيح، مهموز، مثال، اجوف، ناقص، لفيف، مضاعف.

بيت

صحيح است ومثال است ومضاعف

لفيف وناقص ومهموز واجوف

د هر يوه تعريف او مثال په لاندي ډول دي:

(۱) **صحيح**:

هغه اسم يا فعل ته ويل کيږي چي اصلي حروف يې، د علت، همزه، او تکراري حروفو څخه پاک وي، داسم مثال: ضَارِبٌ وزن فَاعِلٌ، نَاصِرٌوزن فَاعِلٌ.د فعل مثال: ضَرَبَ وزن فَعَلَ، نَصَرَوزن فَعَلَ.

(۲) **مهموز**:

هغه اسم یا فعل ته ویل کیږي چي د اصلي حروفو پر برابر یې همزه وي او مهموز درې ډوله لري: مهموز الفاء، مهموز العین، مهموز اللام.

الف- مهموزالفاء: چي دفا کلمې پر برابر یې همزه وي. د اسم مثال: اَمْرٌ، اَخْذٌ، اَكْلٌ وزن فَعْلٌ. دفعل مثال: اَمَرَ، اَكَلَ، اَخَذَ وزن فَعَلَ.

ب-مهموزالعین: چي د عین کلمې پر برابر یې همزه وي. داسم مثال: سَئْلٌ، بِئْسٌ، وزن فَعْلٌ. د فعل مثال :سَئَلَ، بِئِسَ، يَئِسَ وزن فَعَلَ، فَعِلَ.

ج- مهموزاللام: چي د لام کلمې پر برابر یې همزه وي. داسم مثال: قَرْءٌ، بَدْءٌ، مَلْأٌ وزن فَعْلٌ. د فعل مثال: قَرَءَ، بَدَءَ، مَلَأَ وزن فَعَلَ.

(۳) **مضاعف**:

هغه اسم یا فعل ته ویل کیږي چي دوه اصلي حروف یې د یوه جنسه وي. د اسم مثال: مَدٌّ وزن فَعْلٌ.د فعل مثال :مَدَدَوزن فَعَلَ.

مضاعف دوه ډولونه لري .ثلاثي، رباعي

الف-مضاعف ثلاثي: هغه ته ویل کیږي چي په ثلاثي کلمه کي دوه حرفه د یوه جنسه راغلي وي مثال: دَدَنَ،فَرَرَ وزن فَعَلَ.

ب-مضاعف رباعي: هغه ته ویل کیږي چي په رباعي کلمه کي دوه حرفه د یوه جنسه راغلي وي، مثال:دَمْدَمَ وزن فَعْلَلَ، زَلْزَلَ وزن فَعْلَلَ.

(۴) مثال:

هغه اسم یا فعل ته ویل کیږي چي د وزن پر مهال یې د فا پرکلمه حرف علت وي، داسم مثال: وَعْدٌ وزن فَعْلٌ. دفعل مثال: وَعَدَ وزن فَعَلَ. مثال دوه ډولونه لري: مثال واوي، مثال یایي.

الف-مثال واوي: هغه مثال ته ویل کیږي چي د فا کلمې حرف علت یې (واو) وي مثلاً: وَكَلَ، وَجِلَ، وَسُمَ وزن فَعُلَ، فَعِلَ، فَعُلَ.

ب-مثال یایي: هغه مثال ته ویل کیږي چي د فا کلمې حرف علت یې (یاء) وي مثلاً: يَسَرَ، يَقِنَ وزن فَعَلَ،فَعِلَ.

(۵) اجوف:

داسم یا فعل هغه کلمې ته ویل کیږي چي د عین کلمې پر برابري یې حرف علت وي. داسم مثال: قَوْلٌ، بَيْعٌ وزن فَعْلٌ. د فعل مثال: قَوَلَ، بَيَعَ، جَيَدَ، مَوَلَ وزن فَعَلَ.

اجوف هم دوه ډولونه لري.اجوف واوي، اجوف یایي.

الف-اجوف واوي: هغه اجوف ته ویل کیږي چي د عین پر کلمه برابر حرف علت یې (واو) وي .مثال : حَوَلَ، قَوَلَ، كَوَنَ وزن فَعَلَ. **ب-اجوف یایي:** هغه اجوف ته ویل کیږي چي د عین پر کلمه برابر یې حرف علت (یاء) وي. مثال: بَيَعَ، سَيَدَ، جَيَدَ وزن فَعَلَ.

(۶)**ناقص**:

داسم یا فعل هغه کلمې ته ویل کیږي چې د لام کلمې پر برابر یې حرف علت وي، د اسم مثال: رَحًىٌ، رَمْىٌ، دَعْوٌ وزن فَعْلٌ. د فعل مثال :رَحَىَ، رَقَىَ، دَعَوَ، عَلَوَ وزن فَعَلَ.

ناقص هم دوه ډولونه لري.ناقص واوي، ناقص یایي.

الف-ناقص واوي: هغه ناقص ته ویل کیږي چې د لام پر کلمه برابر حرف علت یې واو وي، مثال : بَلَوَ،دَعَوَ،عَلَوَ وزن فَعَلَ.

ب- ناقص یایي: هغه ناقص ته ویل کیږي چې د لام پر کلمه برابر حرف علت یې (یاء) وي مثال : رَقَىَ، رَحَىَ،نَسِىَ وزن فَعَلَ.

(۷) **لفیف**:

هغه اسم او فعل ته ویل کیږي چې د کلمې د اصلي حروفو څخه یې دوه اصلي حرفونه حرف علت وي، د اسم مثال: وَقٍىٌ، وَشِىٌ وزن فَعَلٌ. د فعل مثال: وَقَىَ، وَشِىَ وزن فَعَلَ،فَعِلَ.

لفیف هم دوه ډولونه لري: لفیف مفروق،لفیف مقرون.

الف-لفیف مفروق: هغه کلمې ته ویل کیږي چې دوه حروف علت یې سره جلا وي مثال : وَقْىٌ، وَقَىَ، وَشْىٌ، وَشِىَ وزن فَعْلٌ،فَعَلَ.

ب-لفیف مقرون: هغه ته ویل کیږي چې دوه حروف علت یې سره

يو ځای وي، مثال: طَوْیٌ، طَوَیَ وزن فَعْلٌ،فَعَلَ،رَاوٍ، رَوَیَ وزن فَاعِلٌ فَعَلَ.[1]

[1]- فائده: محترم استاد باید طالبان وپوهوي چي هفت اقسام یوازي داسم متمکن او فعل متصرف اقسام دي، داسم غیر متمکن او فعل غیر متصرف اقسام نه دي او په مثالونو سره یې ښه تمرین وکړي.

(۵) **فصل**: د اسم اقسام

مصدر

مشتق

جامد

د اسم اقسام

اسم پر درې ډوله دی: مصدر، مشتق او جامد.

اول- مصدر:

هغه اسم ته ویل کېږي چي دده څخه بل اسم او یا فعل د یوه غرض لپاره جوړېږي، د مثال په توګه: (عِلْمٌ) مصدر دی، دده څخه (عَلِمَ) ماضي فعل (يَعْلَمُ) مضارع فعل (عَالِمٌ) اسم فاعل او داسي نور جوړېږي.

د مصدر د پېژندلو نښه:

د مصدر نښه داده چي کله پښتو ته ترجمه کړل سي، نو په آخر کي يې لام وي او په فارسي ترجمه کي يې نښه داده چي په اخر کي يې (دال و نون یا تا ونون) وي.

مثالونه		
صيغه	پښتوترجمه	فارسي ترجمه
اَلضَّرْبُ	وهل	زدن
اَلْقَتْلُ	وژل	کشتن
اَلضِّحْكُ	خندل	خندن
اَلْقَوْلُ	ویل	گفتن

دوهم- مشتق:

هغه اسم ته ویل کېږي، چي د ی دبل چا څخه جوړ سوی وي، لکه: نَاصِرٌ، مَنْصُوْر.[1]

دریم- جامد:

هغه اسم ته ویل کېږي چي نه خپله د چا څخه جوړ سوی وي او نه هم دده څخه بل شئ جوړېږي، مثال: رَجُلٌ، زَيْدٌ.

[1]: **فائده**: د اسم په شان فعل هم مشتق کېدای سي، مثال: نَصَرَ، يَنْصُرُ.

(۶) **فصل** د فعل بيان

فعل ماضي

فعل مضارع

فعل جحد

فعل نفي

فعل امر

فعل نهي

د فعل ماضي بيان

فعل ماضي هغه فعل ته ويل کيږي چي د يوه کار کېدل يا کول په تېره زمانه کي ښيي، لکه: نَصَرَ (يوه سړي مرسته وکړه) ذَهَبَ (يو سړی ولاړی)

فعل ماضي دوه قسمه لري: ماضي مثبت،ماضي منفي.

الف- فعل ماضي مثبت:

هغه ماضي ته ويل کيږي چي په تېر وخت کي د کار کېدل يا کول ځني معلوميږي، مثال: نَصَرَ (يوه سړي مرسته وکړه) دَخَلَ (يو سړی ننوتی).

ب- فعل ماضي منفي:

هغه ماضي فعل ته ويل کيږي چي په تېر وخت کي د يوه کار نفي (نه کېدل) ځني معلوميږي، مثال: مَانَصَرَ (يوه سړي مرسته نه وکړل)

دماضي دغه ډولونه هر يو دوه ډوله لري: (۱)معلوم (۲)مجهول.

لومړی: ماضي معلوم هغه فعل ته ويل کيږي چي د کار کونکی يې معلوم وي مثال: نَصَرَاَحْمَدُ (احمد مرسته وکړه).

دوهم: فعل مجهول هغه فعل ته ويل کيږي چي د کار کونکی يې نه وي معلوم. مثال: نُصِرَبَكْرٌ (د بکر سره مرسته وسوه).

په دغه مثال کي د مرستي کونکي د تذکير او تانيث همدا ډول د

واحد تثنیه او جمعي له اړخه نه دی معلوم، بلکه د کوم چا سره چي مرسته سوېده چي بکر دی هغه ذکر سوی دی.

په دې سره د ماضي ټول قسمونه څلور ته رسيږي

(١) ماضي معلوم مثبت

(٢) ماضي مجهول مثبت

(٣) ماضي معلوم منفي

(٤) ماضي مجهول منفي

چي د هر یوه تفصیل پر خپل ځای راتلونکی دی. انشاء الله تعالی.

فائده: هر معلوم فعل د فاعل په اعتبار پر (٣) درې ډوله دی: (١) غائب، (٢) مخاطب، (٣) متکلم.

په درو واړو صورتونو کي کله مذکر وي او کله مؤنث چي په دې سره ئې اقسام شپږ جوړيږي، دغه شپږ سره قسمونه هر یو درې درې قسمه لري: واحد، تثنية، جمع، چي په دې سره ئې مجموعه ټول اقسام اتلس (١٨) ته رسيږي، چي هر قسم ته يې د صرفيانو په اصطلاح کي صيغه ويل کيږي، ليکن دواحد مذکر متکلم او واحده مؤنثه متکلمه دواړو لپاره یو لفظ استعماليږي، همدا راز د تثنيه مذکر متکلم، تثنيه مؤنثه متکلمه، جمع مذکر متکلم، جمعه مؤنثه متکلمه څلورو سره اقسامو لپاره فقط یومشترک لفظ استعماليږي،

چې په دې سره د فعل اتلس صيغې وڅوارلسوته ټيټېږي چې تفصيل يې په راتلونکي جدول کې ملاحظه کړئ.

د فعل ماضي معلوم صيغې

شماره	صيغې	معنی	صيغه		
۱	نَصَرَ	هغه يوه سړي مرسته وکړه	واحد	مذکر	غائب
۲	نَصَرَا	هغه دوو خلګو مرسته وکړه	تثنيه		
۳	نَصَرُوا	هغه ډيرو خلګو مرسته وکړه	جمع		
۴	نَصَرَتْ	هغه يوې ښځي مرسته وکړه	واحد	مؤنث	
۵	نَصَرَتَا	هغه دوو ښځو مرسته وکړه	تثنيه		
۶	نَصَرْنَ	هغه ډيرو ښځو مرسته وکړه	جمع		
۷	نَصَرْتَ	تا يوه سړي مرسته وکړه	واحد	مذکر	مخاطب
۸	نَصَرْتُمَا	تا سودوو خلګو مرسته وکړه	تثنيه		
۹	نَصَرْتُمْ	تاسو ډيروخلګومرسته وکړه	جمع		
۱۰	نَصَرْتِ	تا يوې ښځي مرسته وکړه	واحد	مؤنث	
۱۱	نَصَرْتُمَا	تاسو دووښځومرسته وکړه	تثنيه		
۱۲	نَصَرْتُنَّ	تاسوډيروښځومرسته وکړه	جمع		
۱۳	نَصَرْتُ	ما مرسته وکړه [1]	واحد	مذکر/مؤنث	متکلم
۱۴	نَصَرْنَا	موږ مرسته وکړه [2]	تثنيه/جمع		

[1]: ما که نارينه وي هم ويل کيږي او که ښځينه وي هم ويل کيږي .

[2]: موږکه دوه نارينه وي او که دوې ښځي که ډېر نارينه وي او که ډيري ښځي د ټولو لپاره ويل کيږي.

د فعل ماضي معلوم د جوړولو طريقه:

د فعل ماضي معلوم اوله صيغه دمصدر څخه په دې ډول جوړيږي چې د مصدر اول حرف پر خپل حالت پرېږدو، دوهم ساکن حرف ته حرکت د فتحې ورکوو، په اخر کې تنوين حذف کوو او مبني پر فتحه يې جوړوو، لکه د نَصْراًڅخه نَصَرَ.[1]

د فعل ماضي معلوم د پېژندلو نښه:

د ماضي معلوم نښه د ثلاثي مجرد په بابونو کې داده د فا او لام کلمې همېشه مفتوح وي البته د عين کلمه مختلف کيږي، مثال: نَصَرَ، ضَرَبَ، عَلِمَ، سَمِعَ، كَرُمَ.

او په غير ثلاثي مجرد بابونو کې يې د فا کلمې فتحه نه ده لازمه . مثال: اَكْرَمَ، اِكْتَسَبَ، اِسْتَخْرَجَ.

فائده: دماضي آخر مفتوح وي، د مضارع آخر مضموم وي، دامر او نهي په آخر کې جزم کيږي.

---

[1]: محترم استاذ دي د اشتقاق تعريف طالبانو ته ور وپيژني.
محترم استاذ دي د فعل ماضي د اشتقاق صورتونه پر مشقي تخته وليکي.

د فعل ماضي مجهول صيغې

شماره	صيغې	معنی	صيغه		
۱	نُصِرَ	دهغه يوه سړي سره مرسته سوېده	واحد	مذکر	غائب
۲	نُصِرَا	دهغه دوو خلګوسره مرسته سوېده	تثنيه		
۳	نُصِرُوا	دهغه ډېرو خلګوسره مرسته سوېده	جمع		
۴	نُصِرَتْ	دهغه يوې ښځي سره مرسته سوېده	واحد	مؤنث	
۵	نُصِرَتَا	دهغه دوو ښځو مرسته سره سوېده	تثنيه		
۶	نُصِرْنَ	دهغه ډېرو ښځوسره مرسته سوېده	جمع		
۷	نُصِرْتَ	ستا يوه سړي سره مرسته سوېده	واحد	مذکر	مخاطب
۸	نُصِرْتُمَا	ستا سودوو خلګوسره مرسته سوېده	تثنيه		
۹	نُصِرْتُمْ	ستاسو ډېرو خلګوسره مرسته سوېده	جمع		
۱۰	نُصِرْتِ	ستا يوې ښځي سره مرسته سوېده	واحد	مؤنث	
۱۱	نُصِرْتُمَا	ستاسو دووښځوسره مرسته سوېده	تثنيه		
۱۲	نُصِرْتُنَّ	ستاسوډېروښځوسره مرسته سوېده	جمع		
۱۳	نُصِرْتُ	زما سره مرسته سوېده[1]	واحد	مذکر/مؤنث	متکلم
۱۴	نُصِرْنَا	زموږ سره مرسته سوېده[2]	تثنيه/جمع		

[1]: زما که نارينه وي هم ويل کيږي او که ښځينه وي هم ويل کيږي .
[2]: زموږکه دوه نارينه وي او که دوې ښځي که ډېر نارينه وي او که ډېري ښځي د ټولو لپاره ويل کيږي.

د ماضي مجهول د جوړولو طريقه:

ماضي مجهول د ماضي معلوم څخه په دې ډول جوړيږي، چي دماضي معلوم اخري حرف پر خپل حال پرېږدو، دآخري حرف څخه مخکي حرف که زېر نه درلودی زېر ورکوو او پاته هر څو متحرکه حروف چي وي حرکت د ضمې ورکوو.

د ماضي مجهول د پېژندلو نښه:

په ثلاثي مجرد بابونو کي د ماضي مجهول نښه داده چي اول حرف يې مضموم او ماقبل آخر يې مکسور وي مثال: نُصِرَ، عُلِمَ، مُنِعَ.

او په غير ثلاثي مجرد بابونو کي يې نښه داده چي د ماقبل آخر حرف څخه تر مخه ټول حروف يې مضموم وي فقط ماقبل آخر حرف يې مکسور وي، مثال: صُرِّفَ، اُسْتُخْرِجَ، اُجْتُنِبَ.

د فعل نفي ماضي معلوم صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه		
١	مَانَصَرَ	هغه يوه سړي مرسته نه ده کړې.	واحد	مذکر	غائب
٢	مَانَصَرَا	هغه دوو خلګو مرسته نه ده کړې.	تثنيه		
٣	مَانَصَرُوا	هغه ډيرو خلګو مرسته نه د ه کړې.	جمع		
٤	مَانَصَرَتْ	هغه يوې ښځي مرسته نه ده کړې	واحد	مؤنث	
٥	مَانَصَرَتَا	هغه دوو ښځو مرسته نه ده کړې.	تثنيه		
٦	مَانَصَرْنَ	هغه ډيرو ښځو مرسته نه ده کړې.	جمع		
٧	مَانَصَرْتَ	تا يوه سړي مرسته نه ده کړې.	واحد	مذکر	مخاطب
٨	مَانَصَرْتُمَا	تاسو دوو خلګو مرسته نه ده کړې.	تثنيه		
٩	مَانَصَرْتُمْ	تاسو ډيرو خلګو مرسته نه ده کړې.	جمع		
١٠	مَانَصَرْتِ	تا يوې ښځي مرسته نه ده کړې.	واحد	مؤنث	
١١	مَانَصَرْتُمَا	تاسو دوو ښځو مرسته نه ده کړې.	تثنيه		
١٢	مَانَصَرْتُنَّ	تاسو ډيرو ښځو مرسته نه ده کړې.	جمع		
١٣	مَانَصَرْتُ	ما مرسته نه ده کړې.[١]	واحد	مذکر/مؤنث	متکلم
١٤	مَانَصَرْنَا	موږ مرسته نه ده کړې.[٢]	تثنيه/جمع		

[١]: ما که نارينه وي هم ويل کيږي او که ښځينه وي هم ويل کيږي .

[٢]: موږکه دوه نارينه وي او که دوې ښځي که ډېر نارينه وي او که ډيري ښځي د ټولو لپاره ويل کيږي.

دفعل نفي ماضي مجهول صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه		
١	مَانُصِرَ	د هغه يوه سړي سره مرسته نده سوې	واحد	مذکر	غائب
٢	مَانُصِرَا	د هغه دوو خلګو سره مرسته نده سوې	تثنيه		
٣	مَانُصِرُوا	د هغه ډيرو خلګو سره مرسته نده سوې	جمع		
۴	مَانُصِرَتْ	د هغه يوې ښځي سره مرسته نده سوې	واحد	مؤنث	
۵	مَانُصِرَتَا	د هغه دوو ښځو سره مرسته نده سوې	تثنيه		
۶	مَانُصِرْنَ	د هغه ډيرو ښځو سره مرسته نده سوې	جمع		
٧	مَانُصِرْتَ	ستايوه سړي سره مرسته نده سوې	واحد	مذکر	مخاطب
٨	مَانُصِرْتُمَا	ستاسو دوو خلګو سره مرسته نده سوې	تثنيه		
٩	مَانُصِرْتُمْ	ستاسو ډيرو خلګو سره مرسته نده سوې	جمع		
١٠	مَانُصِرْتِ	ستا يوې ښځي سره مرسته نده سوې	واحد	مؤنث	
١١	مَانُصِرْتُمَا	ستاسو دوو ښځوسره مرسته نده سوې	تثنيه		
١٢	مَانُصِرْتُنَّ	ستاسو ډيروښځو سره مرسته نده سوې	جمع		
١٣	مَانُصِرْتُ	زما سره مرسته نده سوې[1]	واحد	مذکر/مؤنث	متکلم
١۴	مَانُصِرْنَا	زموږ سره مرسته نده سوې[2]	تثنيه/جمع		

[1]: زما که نارينه وي هم ويل کيږي او که ښځينه وي هم ويل کيږي .
[2]: زموږکه دوه نارينه وي او که دوې ښځي که ډېر نارينه وي او که ډيري ښځي د ټولو لپاره ويل کيږي.

يادونه: فعل ماضي د مذکوره اقسامو څخه علاوه نور اقسام هم لري چي نومونه يې په لاندي ډول دي.

ماضي مطلق

ماضي قريب

ماضي بعيد

ماضي احتمالي

ماضي تمنايي

ماضي استمراري

البته د اختصار په وجه په دې ځای کي فقط مثالونه راوړو تعريفونه يې وروسته د لوړو کتابو څخه وګورئ.

ماضي مطلق: نَصَرَ، مَانَصَرَ

ماضي قريب: قَدْ نَصَرَبَ، قَدْ مَاضَرَبَ

ماضي بعيد: كَانَ نَصَرَ، مَا كَانَ نَصَرَ

ماضي احتمالي: لَعَلَّمَاشَرِبَ، لَعَلَّمَا مَاشَرِبَ

ماضي تمنايي: لَيْتَمَاقَدِمَ، لَيْتَمَا مَاقَدِمَ

ماضي استمراري: كَانَ يَفْعَلُ، مَا كَانَ يَفْعَلُ

د فعل مضارع بيان

فعل مضارع هغه فعل ته ويل کيږي چي حال او استقبال (روانه اوراتلونکي) دواړي زماني پکښي وي، لکه: يَنْصُرُ (هغه يوه سړی مرسته کوي حالاً يا مرسته به وکړي په راتلونکي کي).

د فعل ماضي په ډول فعل مضارع هم څلور قسمونه لري:

(١) مضارع مثبت معلوم

(٢) مضارع مثبت مجهول

(٣) مضارع منفي معلوم

(٤) مضارع منفي مجهول

فائده: فعل مضارع منفي معلوم او مجهول هره يوه پر دوه قسمه ده. (١) منفي بـلا، (٢) منفي بـلن چي په دې سره د منفي اقسام څلور کيږي تفصيل يې راتلونکی دی.

څنګه چي د ماضي څوارلس صيغې وې دغه ډول د مضارع هم څوارلس صيغې دي. دمضارع علامې څلور دي . (أ) (تا) (يا) (ن) چي مجموعه (اتين) ځيني جوړيږي.

دمضارع مثبت معلوم بيان:

مضارع مثبت معلوم هغه فعل ته ويل کيږي چي په روانه يا راتلونکې زمانه کي د کار کېدل په معلوميږي. لکه: يَنْصُرُ (هغه يوه سړي مرسته کوي حالاً يا په راتلونکي کي).

دمضارع مثبت معلوم د جوړولو طريقه:

مضارع مثبت معلوم د ماضي مثبت معلوم څخه جوړيږي طريقه يې په لاندي ډول ده:

د ماضي مثبت معلوم په شروع کي د مضارع د څلورو علامو څخه چي (اتين) کيږي يو حرف د لاندي تفصيل موافق راوړو:

ا- همزه: صرف د واحد متکلم صيغې په شروع کي راوړو.

ب- تا: داتو صيغو په شروع کي راځي، هغه اته صيغې دادي:

درې مذکر مخاطب (واحد ، تثنيه، جمع)

درې مؤنث مخاطب (واحد ، تثنيه، جمع)

دوې مؤنث غائب (واحد ، تثنيه)

ج-يا: دڅلورو صيغو په شروع کي راوړو، هغه څلور صيغې دادي:

درې دمذکرغائب (واحد ، تثنيه، جمع)

يوه صيغه دجمع مؤنث غائبات

د- نون: صرف د جمع متکلم په شروع کي راوړو.

د فعل مضارع مثبت معلوم صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه		
۱	يَنْصُرُ	هغه يو سړی مرسته کوي يا به يې وکړي	واحد	مذکر	غائب
۲	يَنْصُرَانِ	هغه دوه خلک مرسته کوي يا به يې وکړي	تثنيه		
۳	يَنْصُرُوْنَ	هغه ډېر خلک مرسته کوي يا به يې وکړي	جمع		
۴	تَنْصُرُ	هغه يوه ښځه مرسته کوي يا به يې وکړي	واحد	مؤنث	
۵	تَنْصُرَانِ	هغه دوې ښځې مرسته کوي يا به يې وکړي	تثنيه		
۶	يَنْصُرْنَ	هغه ډېرې ښځې مرسته کوي يا به يې وکړي	جمع		
۷	تَنْصُرُ	ته يو سړی مرسته کوې يا به يې وکړې	واحد	مذکر	مخاطب
۸	تَنْصُرَان	تاسي دوه خلک مرسته کوی يا به يې وکړی	تثنيه		
۹	تَنْصُرُوْنَ	تاسي ډېر خلک مرسته کوی يا به يې وکړئ	جمع		
۱۰	تَنْصُرِيْنَ	ته يوه ښځه مرسته کوې يا به يې وکړې	واحد	مؤنث	
۱۱	تَنْصُرَانِ	تاسي دوې ښځې مرسته کوئ يا به يې وکړئ	تثنيه		
۱۲	تَنْصُرْنَ	تاسي ډېرې ښځې مرسته کوی يا به يې وکړی	جمع		
۱۳	اَنْصُرُ	زه مرسته کوم يا به يې وکړم[1]	واحد	مذکر/مؤنث	متکلم
۱۴	نَنْصُرُ	موږ مرسته کوو يا به يې وکړو[2]	تثنيه/جمع		

[1]: ما که نارينه وي هم ويل کيږي او که ښځينه وي هم ويل کيږي.
[2]: موږ که دوه نارينه وي او که دوې ښځې که ډېر نارينه وي او که ډېرې ښځې د ټولو لپاره ويل کيږي.

فائده: د مضارع د علامت څخه مخکي که (س) یا (سوف) راسي نو په مضارع کي صرف د استقبال معنی کیږي دحال معنی یې نه وي.

سین داستقبال قریب لپاره دی سَيَنْصُرُ (یو سړی به په نژدې راتلونکي کي مرسته وکړي). سوف د استقبال بعید لپاره دی سَوْفَ يَنْصُرُ(یو سړی به په وروسته راتلونکي کي مرسته وکړي) .

فائده:که د مضارع د علامت څخه مخکي مفتوح لام راسي نو په مضارع کي صرف د حال معنی کیږي د استقبال معنی یې نه وي . لکه: لَيَنْصُرُ هغه یو سړی خامخا مرسته کوي.

د مضارع مثبت مجهول بیان:

فعل مضارع مجهول هغه فعل ته ویل کیږي چي په روان یا آینده وخت کي یې د فعل واقع کېدل معلومیږي، مثال: يُنْصَرُ (د یوه سړي سره مرسته کیږي اوس یا آینده)

د فعل مضارع مجهول د جوړولو طریقه:

مضارع مثبت مجهول د مضارع مثبت معلوم څخه په دې ډول سره جوړیږي: که د مضارع پر علامه باندي پېښ نه وو، پېښ ورکوو او د آخر حرف څخه مخکي حرف باندي که زور نه وو زور ورکوو نور یې پر خپل حال پرېږدو، مثال: دیَنْصُرُ څخه يُنْصَرُ، دیَضْرِبُ څخه يُضْرَبُ جوړیږي.

د فعل مضارع مثبت مجهول صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه		
۱	يُنْصَرُ	د هغه يو سړي سره مرسته کيږي	واحد	مذکر	غائب
۲	يُنْصَرَانِ	د هغه دوو خلګو سره مرسته کيږي	تثنيه		
۳	يُنْصَرُوْنَ	د هغه ډېرو خلګو سره مرسته کيږي يا به وسي	جمع		
۴	تُنْصَرُ	د هغه يوې ښځي سره مرسته کيږي يا به وسي	واحد	مؤنث	
۵	تُنْصَرَانِ	د هغه دوو ښځو سره مرسته کيږي يا به وسي	تثنيه		
۶	يُنْصَرْنَ	د هغه ډېروښځو سره مرسته کيږي يا به وسي	جمع		
۷	تُنْصَرُ	ستا يوه سړي سره مرسته کيږي يا به وسي	واحد	مذکر	مخاطب
۸	تُنْصَرَانِ	ستاسو دوو خلګو سره مرسته کيږي يا به وسي	تثنيه		
۹	تُنْصَرُوْنَ	ستاسو ډېرو خلګو سره مرسته کيږي يا به وسي	جمع		
۱۰	تُنْصَرِيْنَ	ستا يوې ښځي سره مرسته کيږي يا به وسي	واحد	مؤنث	
۱۱	تُنْصَرَانِ	ستاسو دوو ښځو سره مرسته کيږي يا به وسي	تثنيه		
۱۲	تُنْصَرْنَ	ستاسو ډېرو ښځو سره مرسته کيږي يا به وسي	جمع		
۱۳	اُنْصَرُ	زما سره مرسته کيږي يا به وسي[1]	واحد	مذکر/مؤنث	متکلم
۱۴	نُنْصَرُ	زموږ سره مرسته کيږي يا به وسي[2]	تثنيه/جمع		

[1]: زما که نارينه وي هم ويل کيږي او که ښځينه وي هم ويل کيږي .

[2]: زموږکه دوه نارينه وي او که دوې ښځي که ډېر نارينه وي او که ډېري ښځي د ټولو لپاره ويل کيږي.

د فعل مضارع منفي بيان:

فعل مضارع منفي هغه فعل ته ويل کيږي چي په هغه سره په حال يا استقبال زمانه کي د کار دکولو نفي معلوميږي. لکه: لَايَنْصُرُ (هغه يو سړی مرسته نه کوي حالاً يا په آينده کي). دفعل مضارع مثبت او منفي تر مابين دوه فرقه دي: لفظي او معنوي.

(١) لفظي فرق يې دادی چي: پر فعل مضارع مثبت باندي کلمه د (لا) او (ما) نه وي، او پر منفي باندي (لا) يا (ما) داخل وي.

(٢) معنوي فرق يې دادی چي په فعل مضارع مثبت کي د کار کېدل وي او په منفي کي د کار د کېدلو نفي وي.

د فعل مضارع منفي معلوم بيان:

مضارع منفي معلوم هغه مضارع ته ويل کيږي چي په اوس يا راتلونکې زمانه کي د يوه کار نه کېدل يا نه کول ځيني معلوميږي. مثال: لَايَنْصُرُ (هغه سړی مرسته نه کوي اوس يا آينده).

دفعل مضارع منفي معلوم د جوړولو طريقه:

دمضارع مثبت معلوم په شروع کي د (لا) د راوړلو څخه فعل مضارع منفي معلوم جوړيږي لکه دَيَنْصُرُ څخه لَايَنْصُرُ معنی (هغه يو سړی مرسته نه کوي) جوړيږي. دغه (لا) په لفظ کي هيڅ عمل نه کوي، د (لا) دراوړلوڅخه مخ ته چي لفظ څه ډول وي د (لا)

دراوړلوڅخه وروسته به هم هغه سي وي،البته معناً تغير راولي د اثبات څخه نفي راولي.

د فعل مضارع منفي معلوم صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه		
فائده: دصفت مشبه د جوړېدلو لپاره يوه ټاکلې قاعده نسته، البته کله د مادې د دوهم حرف وروسته (يا)، کله (واو) او کله (الف) زياتيږي، مثال: شَرِيْفٌ، وَقُوْدٌ، شُجَّاعٌ خو کله بيا ماده پوره پاته سي او يوازې يې په حرکاتو کې تغير راسي، مثال: صَعْبٌ، جُنُبٌ، صِفْرٌ او کله د فَعْلَانٌ او فَاعِلٌ پر وزن راسي، لکه تَعْبَانٌ، غَضْبَانٌ، عَالِمٌ، جَاهِلٌ، صَادِقٌ.

د اسم فاعل او صفت مشبه تر مابين فرق:

داسم فاعل او صفت مشبه تر مابين دوه فرقه دي:

الف- په اسم فاعل کې د مصدر معنى عارضي وي يعني د لږ وخت لپاره وي، لکه: نَاصِرٌ هغه چا ته ويل کيږي چې د مرستې په حال کې وي او په صفت مشبه کې د مصدر معنى دوامداره وي، مثال: جَمِيْلٌ هغه چا ته ويل کيږي چې ښايست او جمال يې همېشه وي.

ب- اسم فاعل د متعدي او لازم دواړو فعلونو څخه جوړيږي، لکه: نَاصِرٌ، ضَارِبٌ، عَالِمٌ او صفت مشبه همېشه د لازم فعل څخه جوړيږي، لکه: كَرِيْمٌ، شَرِيْفٌ.

فائده: د صفت مشبه اوزان زيات دي، زيات استعمالېدونکي يې درې دي (١) فَعْلٌ (٢) فِعْلٌ (٣) فَعِيْلٌ. راتلونکي اوزان د صفت مشبه مشهور اوزان دي چې د هر يوه څخه د مذکور ګردان په ډول پوره ګردان جوړيږي.

د صفت مشبه اوزان

شماره	موزون	مثال	معنی
١	فَعْلٌ	ضَخْمٌ	چاغ
٢	فِعْلٌ	صِفْرٌ	مفلس
٣	فُعْلٌ	صُلْبٌ	سخت
۴	فَعَلٌ	بَطَلٌ	زړه ور
۵	فَعِلٌ	فَرِحٌ	خوشحاله
۶	فُعَلٌ	جُنُبٌ	بې اودسه
٧	فَعَالٌ	جَبَانٌ	بې زړه
٨	فُعَالٌ	شُجَاعٌ	زړور

(۴)د اسم مبالغه بيان:

اسم مبالغه هغه مشتق اسم ته ويل کيږي چي د هغه په فاعل کي د مصدري معنى زياتوالى وي، لکه: سَتَّارٌ (ډېر عيب پټوونکى)، غَفَّارٌ (ډېر بخښونکى).

د اسم مبالغه پوره صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه		
۱	صِدِّيْقٌ	يو سړى ډېر رشتيا ويونکى	واحد	مذکر	اسم مبالغه
۲	صِدِّيْقَانِ	دوه ډېر رشتيا ويونکي خلک	تثنيه		
۳	صِدِّيْقُوْنَ	زيات ډېر رشتيا ويونکي خلک	جمع		
۴	صِدِّيْقَةٌ	يوه ډېره رشتيا ويونکې ښځه	واحد	مؤنث	
۵	صِدِّيْقَتَانِ	دوې ډېري رشتياويونکي ښځي	تثنيه		
۶	صِدِّيْقَاتٌ	زياتي ډېري رشتيا ويونکي ښځي	جمع		

د اسم مبالغه اوزان:

داسم مبالغه اوزان سماعي دي، البته زيات استعمال يې په راتلونکي اوزانو کي وي.

شماره	صيغه	مثال	معنی
١	فَعَّالٌ	غَفَّارٌ	ډېر بخښونکی
٢	فُعَّالٌ	كُبَّارٌ	ډېر لوی
٣	فِعِّيْلٌ	صِدِّيْقٌ	دېر ريشتيا ويونکی
٤	فَعُّوْلٌ	قَيُّوْمٌ	ډېر ثابت او تل تر تله
٥	فُعُّوْلٌ	قُدُّوْسٌ	ډېر پاک
٦	فُعَّلٌ	قُلَّبٌ	ډېر چم باز
٧	فَعِيْلٌ	رَحِيْمٌ	ډېر رحم کوونکی
٨	فَعُوْلٌ	شَكُوْرٌ	ډېر شکر کوونکی
٩	فَاعُوْلٌ	فَارُوْقٌ	ډېر فرق کوونکی

يادونه: د اسم مبالغې د پوره ګردان په ډول هر وزن پوره ګردان لري.

فائده: د مبالغې په اوزانو کي دمذکر او مؤنث فرق نسته د دواړو لپاره همدغه صيغې استعماليږي، که په ځينو اوزانو کي (تا) زياته سي هغه (تا) د تانيث نه بلکه د مبالغې لپاره ده، لکه: (علامة) يعني دا د مذکر او مؤنث دواړو لپاره استعماليږي، يعني ډېر پوه سړی او ډېره پوهه ښځه.

فائده: د کسب کاره خلګو لپاره د(فَعَّالٌ وزن استعمالیږي لکه: خَيَّاطٌ (ګنډونکی)، حَجَّامٌ (وینه کښونکی) بَزَّازٌ (توکرپلورونکی).

فائده:کله داسي هم کیږي چي دا (فَعّالٌ وزن د اسم جامد څخه جوړ سي، مثال: بَقَّالٌ (سبزي خرڅونکی) د بَقْلَةٌ څخه جوړ سوی دی چي معنی یې ده (سبزي).

د اسم فاعل او اسم مبالغې فرق:

داسم فاعل او اسم مبالغه تر مابین دوه فرقه دي:

الف- داسم فاعل اوزن قیاسي دي او د اسم مبالغه اوزان سماعي دي.

ب- د اسم فاعل معنی په صرف کار کونکي سره کیږي او د اسم مبالغه ترجمه په زیات کار کونکي سره کیږي.

(۵)د اسم تفضیل بیان:

اسم تفضیل هغه اسم مشتق ته ویل کیږي چي په هغه کي فاعلي معنی نسبتاً تر بل چا زیاته وي، لکه : مَحْمُوْدُ اَقْرَءُ مِنْ اَحْمَدَ (محمود تر احمد زیات قرائت ویونکی دی).

د اسم تفضیل د جوړولو طریقه:

اسم تفضیل همیشه د داسي فعل څخه جوړیږي، چي د هغه په ماضي کي درې حروفه وي زائد نه وي او نه هم په معنی د رنګ او عیب سره وي، د جوړېدلو طریقه یې داده چي: د فعل مضارع څخه حرف

اتين حذف کيږي د هغه پر ځای همزه ورکول کيږي او که د عين پر کلمه زوَرْ نه وي زور ورکول کيږي، په آخر کي ضمه بلا تنوينه راوړل کيږ ي، په دې سره د اسم تفضيل واحد مذکر جوړيږي، مثال: د يَفْعِلُ څخه اَفْعَلُ.

د اسم تفضيل صيغې

شماره	صيغې	معنی	صيغه		
۱	اَنْصَرُ	يو سړی زيات مرسته کونکی	واحد	مذکر	اسم تفضيل
۲	اَنْصَرَانِ	دوه خلګ زيات مرسته کونکي	تثنيه		
۳	اَنْصَرُوْنَ	ډېر خلګ زيات مرسته کونکي	جمع		
۴	اَنَاصِرُ	ډېر خلګ زيات مرسته کونکي	جمع		
۵	نُصْرىٰ	يوه ښځه زياته مرسته کونکې	واحد	مؤنث	
۶	نُصْرَيَانِ	دوې ښځي زياتي مرسته کونکي	تثنيه		
۷	نُصْرَيَاتٌ	ډېري ښځي زياتي مرسته کونکي	جمع		
۸	نُصَرٌ	ډېري ښځي زياتي مرسته کونکي	جمع		
۹	نُصَيْرىٰ	ډېري ښځي زياتي مرسته کونکي	جمع		

د اسم تفضيل اوزان:

د اسم تفضيل لپاره په ثلاثي مجرد بابونو کي د مذکر لپاره د اَفْعَلُ وزن او د مؤنث لپاره د فُعْلٰی وزن استعمالیږي.

فائده: د تفضيلي معنی د ادا کولو لپاره ثلاثي مجرد بابونه ټاکلي اوزان لري لکه پورته چي ذکر سوه، البته د ثلاثي مجرد څخه علاوه بابونو مشخص اوزان نلري، که د تفضيلي معنی استعمال په غير ثلاثي مجرد بابونو کي وغواړو نو طريقه يې داده چي: د (اَشَدُّ) يا (اَكْثَرُ) يا د دې په معنی سره يو لفظ به د هغه باب د مصدر په شروع کي راوړو، لکه: اَحْمَدُ اَشَدُّ اِكْرَاماً مِنْ خَلِيْلٍ (احمد تر خليل په عزت کولوکي زيات دی)، زُبَيْرُ اَكْثَرُ اِجْتِنَابًا مِنْ حَمِيْدٍ (زبير په پرهېز کولو کي تر حميد زيات دی).

همدا ډول د ثلاثي مجرد هغه بابونه چي په معنی د لون (رنګ) يا عيب سره وي د اسم تفضيل اوزان نلري، د تفضيلي مقصد لپاره طريقه همدا طريقه ده چي: د (اَشَدُّ) يا (اَكْثَرُ) يا د دې په معنی سره يو لفظ به د دغه باب د مصدر په شروع کي راوړو، مثال: اَلرَّجُلُ اَشَدُّ اِسْوِدَاداً مِنَ اللَّيْلِ (سړی تر توري شپې زيات تور دی).

فائده: کوم فعلونه چي د لون او عيب په معنی سره وي د هغو فعلونو د (اَفْعَلُ) وزن د تفضيل لپاره نه دی بلکه د صفت مشبه لپاره وي لکه: اَسْوَدُ، اَعْوَرُ.

فائده: اسم تفضيل عموما په فاعلي معنى کي زياتوالى وي، ليکن کله کله د مفعولي معنى په اعتبار هم استعمالېږي، لکه: اَشْهَرُ (زيات مشهوره) اَشْغَلُ (زيات مشغوله).

فائده: داسم تفضيل صيغو د معنى زياتوالى نسبت ويو چا ته وي دمثال په توګه زيدٌاَضْرَبُ مِنْ عَمْرٍو (زيد تر عمرو زيات وهونکى دى).

د اسم مبالغه او اسم تفضيل تر مابين فرق:

اسم مبالغه او اسم تفضيل په خپل مابين کي دوه فرقه لري: لفظي اومعنوي.

لفظي فرق يې په اوزانو سره دى، معنوي فرق يې دادى چي: په اسم مبالغه کي د معنى زيادت في نفسه يعني د خپل ځان په اعتبار دى او په اسم تفضيل کي د معنى زيادت لغيره يعني نسبت وبل چا ته دى، مثال: العَلاَّم (ډېر زيات علم لرونکى) مبالغه ده، سعدُاَقْوَى مِنْ زُبَيْرٍ (سعد تر زبير طاقتور دى) اسم تفضيل دى.

(۶) د اسم ظرف بيان:

اسم ظرف هغه مشتق اسم ته ويل کيږي، چي د فعل د کېدو ځاى يا وخت ځيني معلوميږي، لکه: (مَسْجِدٌ) دسجدې کولو ځاى، (مَدْخَلٌ) د ننوتلو وخت.

د اسم ظرف د جوړولو طريقه:

که يې ماضي درې حرفيزه وه نو اسم ظرف يې دفعل مضارع څخه جوړيږي چي طريق يې په لاندي ډول ده:

دفعل مضارع علامت چي حرف (اتين) دي ليري کوو، پر ځای يې مفتوح ميم راوړو او د عين پر کلمه که ضمه وه، نو هغه ته زور ورکوو، او که مفتوح يا مکسور وه نو هغه پر خپل حالت پرېږدو او په آخر کي يې تنوين راوړو، لکه: د يَنْصُرُ څخه مَنْصَرٌ.

او که يې ماضي درې حرفيزه نه بلکه زياته وه، نو بيا د دغه باب اسم ظرف د اسم مفعول پر وزن وي،لکه: د يَجْتَنِبُ څخه مُجْتَنَبٌ ويل کيږي، د اَكْرَمَ يُكْرِمُ څخه مُكْرَمٌ او د دَحْرَجَ يُدَحْرِجُ څخه مُدَحْرَجٌ .

د اسم ظرف صيغې

شماره	صيغې	معنی	صيغه	
۱	مَنْصَرٌ	د مرستي کولو يو وخت يا يو ځای	واحد	اسم ظرف
۲	مَنْصَرَانِ	د مرستي کولو دوه وخته يا دوه ځايه	تثنيه	
۳	مَنَاصِرُ	د مرستي کولو ډېر وختونه او ډېر ځايونه	جمع (منکسر)	
۴	مَنَيْصِرٌ	يو کوچنی ځای يا وخت د مرستي	واحد (مصغر)	

د اسم ظرف اوزان:

اسم ظرف دوه قسمه لري: (۱) ثلاثي مجرد (۲) غير ثلاثي مجرد.

غير ثلاثي مجرد يو وزن لري چي د هغه باب د اسم مفعول وزن دی، لکه: د افعال د باب اسم ظرف د مُكْرَمٌ پر وزن دی.

ثلاثي مجرد دوه وزنه لري:

الف-مَفْعِلٌ: دا هغه وخت وي چي په هفت اقسام کي صحيح، مهموز او اجوف بابونو مضارع مکسورالعين وي،دصحيح مثال: يَضْرِبُ مَضْرِبٌ، يَحْسِبُ مَحْسِبٌ.د مهموز مثال: يَأْذِنُ مَأْذِنٌاو اجوف: يَطْوِحُ مَطْوِحٌ.

ب- مَفْعَلٌ: دا هغه وخت وي چي د هفت اقسام صحيح، مهموز او اجوف بابونو مضارع مکسور العين نه وي بلکه مفتوح العين يا مضموم العين وي، لکه: صحيح: يَنْصُرُ مَنْصَرٌ، يَفْتَحُ مَفْتَحٌ.مهموز:يَأْمُرُ مَأْمَرٌ. اجوف: يَقُوْلُ مَقْوَلٌ

د(مثال) بابونو اسم ظرف همېشه د مَفْعِلٌ پر وزن راځي، لکه: (يَوْعِدُ) مَوْعِدٌ، د ناقص، لفيف او مضاعف د بابونو اسم ظرف همېشه د مَفْعَلٌ پر وزن راځي، (۱) ناقص د يَدْعو څخه مَدْعَوٌ (۲) لفيف د(يَوْشَئُ) څخه مَوْشَئٌ (۳) مضاعف د (يَمْدَدُ) څخه مَمْدَدٌ.

(۷) داسم اله بيان:

هغه مشتق اسم ته ويل کيږي چي د کار کولو ذريعه وي، لکه: مِقْرَاضٌ دپرېکولو شي ته ويل کيږي.

د اسم اله د جوړولو طريقه:

که چيري د يو باب ماضي درې حرفيزه وي نو د هغه اسم آله د فعل مضارع څخه جوړيږي پدې ډول چي: د حرف (اتين) پر ځای مکسور ميم راوړل کيږي، پر عين کلمه که زور نه وو زور ورکول کيږي او په آخر کي تنوين راوړل کيږي، لکه:د يَنْصُرُ څخه مِنْصَرٌ اوکه د يوه باب ماضي درې حرفيزه نه، بلکه تر درې حرفيزه اضافه وي، نو د هغه اسم آله نه راځي، که څوک پدغه ډول بابونو کي د آلې مقصد اداکول وغواړي نو د هغه باب د مصدر مخکي به د (آلة) لفظ او يا د (مابه) لفظ راوړي، لکه: آلَةُ التَّكْرِيمِ، آلَةُ المُنَازَعَة. مَابِهِ الْاِكْرَام، مَابِهِ التَّحَاسُدُ.

د اسم اله اوزان:

داسم آله مشهور درې اوزان دي: مِفْعَلٌ، مِفْعَلَةٌ، مِفْعَالٌ. داسم آله پورته درې اوزان په لفظ کي جلا، ليکن په معنی کي يو ډول دي.[۱]

---

[۱]- د اسم اله درې اوزان دي چي د ځيني صرفيانو په اند ورته د اله صغری، وسطی او کبری لقب ورکول سوی دی.

د مِفْعَلٌ وزن صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه	
۱	مِنْصَرٌ	يوه اله د مرستي کولو	واحد	اله صغرى
۲	مِنْصَرَانِ	دوې الې دمرستي کولو	تثنيه	اله صغرى
۳	مَنَاصِرُ	ډېرې الې د مرستي کولو	جمع	اله صغرى
۴	مُنَيْصِرٌ	يوه اله د لږ مرستي کولو	واحد (مصغر)	اله صغرى

د مِفْعَلَةٌ وزن صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه	
۱	مِنْصَرَةٌ	يوه اله د مرستي کولو	واحد	اسم اله وسطى
۲	مِنْصَرَتَانِ	دوې الې د مرستي کولو	تثنيه	اسم اله وسطى
۳	مَنَاصِرُ	ډېرې الې د مرستي کولو	جمع	اسم اله وسطى
۴	مُنَيْصِرَةٌ	يو اله دلږ مرستي کولو	واحد (مصغر)	اسم اله وسطى

د مِفْعَالٌ وزن صيغې

شماره	صيغې	معنى	صيغه	
۱	مِنْصَارٌ	يوه اله د مرستي کولو	واحد	اسم اله كبرى
۲	مِنْصَارَانِ	دوې الې د مرستي کولو	تثنيه	اسم اله كبرى
۳	مَنَاصِيْرُ	ډېرې الې د مرستي کولو	جمع	اسم اله كبرى
۴	مُنَيْصِيْرٌ	يوه اله د لږ مرستي کولو	واحد (مصغر)	اسم اله كبرى

(۲۲)مشهور بابونه

د بابونو د تفصيل څخه مخکي د يو څو فائدو په ياد زده کول لازم دي.

(۱) **فائده**: د صرفو په علم کي د هغه اسمونو او فعلونو مجموعې ته باب ويل کېږي چي د يوه مصدر څخه جوړ سوي وي، لکه: د (اَلنَّصْرُ) مصدر څخه نَصَرَ، نَصْرًا، نَاصِرٌ، مَنْصُوْرٌ... چي دا ټول يو باب بلل کېږي.

(۲) **فائده**: په ثلاثي مجرد بابونو کي يو له بله جلاوالی د ماضي او مضارع د عين کلمې د حرکت په اختلاف سره کېږي او د ثلاثي مجرد څخه علاوه ثلاثي مزيد فيه، رباعي مجرد او رباعي مزيد فيه بابونه يو دبله په مصدر سره جلا کېږي.[۱]

(۳) **فائده**: هر باب ځان ته مخصوصي علامې او خاصې لري چي په هغه سره دغه باب شهرت لري. علامه: د باب هغه نښي ته ويل کېږي چي په الفاظو کي معلومېږي، لکه د نَصَرَ، يَنْصُرُ د باب علامه ماضي مفتوم العين او مضارع مضموم العين ده.

خاصه: د باب د معنی او استعمال سره تړاو لري په الفاظو کي شی نه وي.

---

[۱]- د ثلاثي مجرد بابو مصدرونه سماعي دي، يعني د عربو څخه چي څنګه اورېدل سوي دي او کوم کوم دي پر هغه ترتيب ددغه باب مصدر بلل کيږي، ځان ته معلوم قانون او قاعده نه لري.

(۴) **فائده**: صرف صغير: د صيغو هغه اجمالي مجموعې ته ويل کېږي چې په هغه کې د يوه باب د اسمونو او فعلونو د تفصيلي ګردانونو اوله اوله صيغه سره راجمع سوې وي، لکه: نَصَرَ، يَنْصُرُ، نَصْرًا، نَاصِرٌ، مَنْصُوْرٌ...

صرف کبير: د صيغو هغه تفصيلي مجموعې ته ويل کېږي چې د اړوند اسم يا فعل پوره صيغې په کښې راجمع سوي وي، لکه: نَصَرَ، نَصَرَا، نَصَرُوا، نَصَرَتْ، نَصَرَتَا، نَصَرْنَ...

(۵) **فائده**: هر فعل څلور قسمونه لري: ثلاثي مجرد، ثلاثي مزيد فيه، رباعي مجرد او رباعي مزيد فيه.

ثلاثي مجرد شپږ مشهور بابونه لري

ثلاثي مزيد فيه دوولس مشهور بابونه لري

رباعي مجرد يو مشهور باب لري

رباعي مزيد فيه درې مشهور بابونه لري

چې په دې سره د فعل د مشهورو بابونو شمېر (۲۲) ته رسېږي، د (۲۲) بابونو اجمالاً نومونه په لاندې ډول دي چې تفصيل يې وروسته راروان دی:

د ثلاثي مجرد شپږ بابونه:

۱- فَعَلَ يَفْعَلُ لکه: نَصَرَ يَنْصُرُ

۲- فَعَلَ يَفْعِلُ لکه: ضَرَبَ يَضْرِبُ

٣- فَعِلَ يَفْعَلَ لکه: عَلِمَ يَعْلَمُ

٤- فَعَلَ يَفْعِلُ لکه: فَتَحَ يَفْتَحُ

٥- فَعِلَ يَفْعِلُ لکه: حَسِبَ يَحْسِبُ

٦- فَعُلَ يَفْعُلُ لکه: شَرُفَ يَشْرُفُ

د ثلاثي مزيد فيه دوولس بابونه:

١) اِفْعَالٌ لکه: اِكْرَامٌ

٢) تَفْعِيْلٌ لکه: تَصْرِيْفٌ

٣) مُفَاعَلَةٌ لکه: مُضَارَبَةٌ

٤) تَفَعُّلٌ لکه: تَقَبُّلٌ

٥) تَفَاعُلٌ لکه: تَقَابُلٌ

٦) اِفْتِعَالٌ لکه: اِجْتِنَابٌ

٧) اِنْفِعَالٌ لکه: اِنْصِرَافٌ

٨) اِسْتِفْعَالٌ لکه: اِسْتِنْصَارٌ

٩) اِفْعِلَالٌ لکه: اِحْمِرَارٌ

١٠) اِفْعِيْلَالٌ لکه: اِحْمِيْرَارٌ

١١) اِفْعِوَّالٌ لکه: اِجْلِوَّازٌ

١٢) اِفْعِيْعَالٌ لکه: اِحْدِيْدَابٌ

د رباعي مجرد يو باب:

(١) فَعْلَلَةٌ لکه: دَحْرَجَةٌ

د رباعي مزيد فيه درې بابونه:

١. تَفَعْلُلٌ لکه: تَدَحْرُجٌ

٢. اِفْعِنْلَالٌ لکه: اِحْرِنْجَامٌ

٣. اِفْعِلَّالٌ لکه: اِقْشِعْرَارٌ

د ثلاثي مجرد شپږ مشهور بابونه

١- باب د فَعَلَ يَفْعُلُ دی، لکه: نَصَرَ يَنْصُرُ

علامه: ماضي مفتوح العين او مضارع مضموم العين.

مصدر يې: اَلنَّصْرُ، اَلنَّصْرَةُ (مرسته کول).

صرف صغير:

نَصَرَ يَنْصُرُ نَصْرًا فهو نَاصِرٌ

وَنُصِرَ يُنْصَرُ نَصْرًا فذاک مَنْصُوْرٌ

لَمْ يَنْصُرْ لَمْ يُنْصَرْ، لَايَنْصُرُ لَايُنْصَرُ

لَنْ يَّنْصُرَ لَنْ يُّنْصَرَ

الامر منه: اُنْصُرْ لِتُنْصَرْ، لِيَنْصُرْ لِيُنْصَرْ

والنهی عنه: لَاتَنْصُرْ لَاتُنْصَرْ، لَايَنْصُرْ لَايُنْصَرْ

والظرف منه: مَنْصَرٌ

والالة منه: مِنْصَرٌ و مِنْصَرَةٌ و مِنْصَارٌ

وافعل التفضيل المذكر منه: اَنْصَرُ

والمؤنث منه: نُصْرَىٰ.

فائده: د (۲۲) مشهوره بابونو سره دهر باب تر صرف صغير وروسته د هغه باب مربوط مصدرونه ذكر كيږي، لهذا هر طالب العلم دي مذكور مصدرونه جلا جلا د ټول باب په ډول ګردان كړي.

همداراز محترم استاذ دي ددغه مصدرونو څخه جوړ صرف صغير د طالب العلم څخه وپوښتي، تر څو باب ښه اجراء سي او تر هغو بل باب شروع نه سي.

د (نَصَرَيَنْصُرُ) د باب نور مصدرونه

اَلطَّلَبُ (طلب كول)	اَلدُّخُوْلُ (داخلېدل)	اَلْخُرُوْجُ (وتل)
اَلْقَتْلُ (وژل)	اَلْخُلُوْدُ (همېشه اوسېدل)	اَلشُّكْرُ (شكر كول)
اَلتَّرْكُ (پرېښو ول)	اَلْحَشْرُ (جمع كول)	اَلْخَلْقُ (پيداكول)

۲- باب د فَعَلَ يَفْعِلُ لكه: ضَرَبَ يَضْرِبُ.

علامه: ماضي مفتوح العين او مضارع مكسور العين.

مصدريي: اَلضَّرْبُ، اَلضَّرْبَةُ (وهل).

صرف صغير:

ضَرَبَ يَضْرِبُ ضَرْبًا فهو ضَارِبٌ

وضُرِبَ يُضْرَبُ ضَرْبًا فذالك مَضْرُوْبٌ

لَمْ يَضْرِبْ لَمْ يُضْرَبْ، لَايَضْرِبُ لَايُضْرَبُ

لَنْ يَّضْرِبَ لَنْ يُّضْرَبَ

الامر منه: اِضْرِبْ لِتُضْرَبْ، لِيَضْرِبْ لِيُضْرَبْ

والنهى عنه: لَاتَضْرِبْ لَاتُضْرَبْ، لَايَضْرِبْ لَايُضْرَبْ

الظرف منه: مَضْرِبٌ

والالة منه: مِضْرَبٌ و مِضْرَبَةٌ و مِضْرَابٌ

وافعل التفضيل للمذكر منه: اَضْرَبُ والمؤنث منه: ضُرْبٰى.

(ضَرَبَ يَضْرِبُ) د باب نور مصدرونه

اَلْغَسْلُ (پريو لل)	اَلْغَلْبُ (غالب كېدل)	اَلْجُلُوْسُ (كښېنستل)
اَلْحَبْسُ (بندول)	اَلصَّرْفُ (كرځېدل)	اَلْفَصْلُ (جلا كول)
اَلْمَغْفِرَةُ (بخښه كول)	اَلصَّبْرُ (صبر كول)	اَلْكِذْبُ (درواغ ويل)

۳-باب د فَعِلَ يَفْعَلُ لکه: عَلِمَ يَعْلَمُ.

علامه: ماضي مکسور العين او مضارع مفتوح العين.

مصدر يې: اَلْعِلْمُ (پوهېدل)

صرف صغير:

عَلِمَ يَعْلَمُ عِلْمًا فهو عَالِمٌ

وعُلِمَ يُعْلَمُ عِلْمًا فذاک مَعْلُوْمٌ

لَمْ يَعْلَمْ لَمْ يُعْلَمْ، لَايَعْلَمُ لَايُعْلَمُ

لَنْ يَّعْلَمَ لَنْ يُّعْلَمَ

الامر منه: اِعْلَمْ لِتُعْلَمْ، لِيَعْلَمْ لِيُعْلَمْ

والنهی عنه: لَاتَعْلَمْ لَاتُعْلَمْ، لَايَعْلَمْ لَايُعْلَمْ

الظرف منه: مَعْلَمٌ

والالة منه: مِعْلَمٌ ومِعْلَمَةٌ ومِعْلَامٌ

وافعل التفضيل للمذکر منه: اَعْلَمُ والمؤنث منه: عُلْمٰی.

د (عَلِمَ يَعْلَمُ) د باب نور مصدرونه

اَلسَّمْعُ (اورېدل)	اَلْفِقْهُ (پوه کېدل)	اَلْفَهْمُ (فهمول)
اَلْحَمْدُ (ويل)	اَلشُّهُوْدُ (حاضرېدل)	اَلشُّرْبُ (چيښل)
اَلْعَطَشُ (تږي کېدل)	اَللَّعِبُ (بازي کول)	اَلْعَمَلُ (کار کول)

۴- باب د فَعَلَ يَفْعَلُ لکه: فَتَحَ يَفْتَحُ.

علامه: ماضي مفتوح العين او مضارع مفتوح العين.

مصدريي: اَلْفَتْحُ (خلاصول).

صرف صغير:

فَتَحَ يَفْتَحُ فَتْحًا فهو فَاتِحٌ

وفُتِحَ يُفْتَحُ فَتْحًا فذاک مَفْتُوْحٌ

لَمْ يَفْتَحْ لَمْ يُفْتَحْ، لَا يَفْتَحُ لَا يُفْتَحُ

لَنْ يَّفْتَحَ لَنْ يُفْتَحَ

الامر منه: اِفْتَحْ لِتُفْتَحْ لِيَفْتَحْ لِيُفْتَحْ

النهی عنه: لَا تَفْتَحْ لَا تُفْتَحْ لَا يَفْتَحْ لَا يُفْتَحْ

الظرف منه: مَفْتَحٌ

والالة منه: مِفْتَحٌ ومِفْتَحَةٌ ومِفْتَاحٌ

وافعل التفضيل للمذكر منه: اَفْتَحُ والمؤنث منه: فُتْحٰى.

د (فَتَحَ يَفْتَحُ) د باب نور مصدرونه

اَلْمَنْعُ (منع کول)	اَلرَّهْنُ (ګروي کول)	اَلْخُشُوْعُ (عاجزي کول)
اَلْمَدْحُ (صفت کول)	الرَّفْعُ (پورته کول)	اَلسَّلْخُ (د پوسته کښل)
اَلْبَعْثُ (لېږل)	اَلطَّبْخُ (پخول)	اَلذَّهَابُ (تلل)

۵- باب د فَعِلَ يَفْعَلُ لکه: حَسِبَ يَحْسِبُ.

علامه: ماضي مکسور العين او مضارع مکسور العين.

مصدر يې: اَلْحَسْبُ، اَلْحِسْبَانُ (گمان کول).

صرف صغير:

حَسِبَ يَحْسِبُ حَسْبًا فهو حَاسِبٌ

وحُسِبَ يُحْسَبُ حَسْبًا فذاک مَحْسُوْبٌ

لَمْ يَحْسِبْ لَمْ يُحْسَبْ، لَايَحْسِبُ لَايُحْسَبُ

لَنْ يَّحْسِبَ لَنْ يُّحْسَبَ

الامر منه: اِحْسِبْ لِتُحْسَبْ، لِيَحْسِبْ لِيُحْسَبْ

والنهی عنه: لَاتَحْسِبْ لَاتُحْسَبْ، لَايَحْسِبْ لَايُحْسَبْ

الظرف منه: مَحْسِبٌ

والالة منه: مِحْسَبٌ ومِحْسَبَةٌ ومِحْسَابٌ

وافعل التفضيل للمذکر منه: اَحْسَبُ والمؤنث منه: حُسْبٰی.

فائده: د (حَسِبَ يَحْسِبُ) د باب د صحيح څخه نور مصادر نسته، البته د (حَسِبَ يَحْسِبُ) باب د (عَلِمَ يَعْلَمُ) څخه هم استعمالېږي او په دغه کي يې د قياس سر موافقت هم زيات دی.

۶- باب د فَعُلَ يَفْعُلُ لكه: شَرُفَ يَشْرُفُ.

علامه: ماضي مضموم العين او مضارع مضموم العين.

مصدر يې: اَلشَّرَفُ، اَلشَّرَافَةُ (عزتمند کېدل).

صرف صغير:

شَرُفَ يَشْرُفُ شَرَفًا فهو شَرِيْفٌ

لَمْ يَشْرُفْ، لَا يَشْرُفُ، لَنْ يَّشْرُفَ

الامر منه: اُشْرُفْ لِيَشْرُفْ

والنهى عنه: لَا تَشْرُفْ لَا يَشْرُفْ، الظرف منه: مَشْرَفٌ

والالة منه: مِشْرَفٌ و مِشْرَفَةٌ و مِشْرَافٌ

وافعل التفضيل للمذكر منه: اَشْرَفُ والمؤنث منه: شُرْفٰى.

(۱) **فائده:** د (شَرُفَ يَشْرُفُ) باب چونکه لا زم دی او لا زم بابونه مجهول او اسم مفعول صيغې نه لري، خو هر لازم باب د حرف جر په مرسته متعدي کېږي او استعمالېدای سي.

(۲) **فائده:** ددې باب دوه خصوصيته دي: الف: همېشه لازم وي. ب: ددغه باب څخه استعمالېدونکي فعلونه زياتره طبعي او خلقي صفاتو دلالت کوي، لکه: حَسُنَ (ښايسته سو) كَبُرَ (لوی سو) صَغُرَ (کوچنی سو).

د (شَرُفَ يَشْرُفُ) د باب نور مصدرونه

اَلْقُرْبُ (نژدې کېدل)	اَلْبُعْدُ (لیري کېدل)	اَلْكَثْرَةُ (زیاتېدل)
اَللُّطْفُ/اللَّطَافَةُ (نرمېدل)	اَلصَّلَاحُ (جوړېدل)	اَلصَّغَارُ (خوارېدل)
اَلثِّقْلُ (درنېدل)	اَلسَّهُوْلَةُ (اسانېدل)	اَلْخُبْثُ/اَلْخَبَاثَةُ (چټلېدل)

د ثلاثي مزید فیه د دوولسو مشهورو بابونو تفصیل:

(۱) باب اِفعَالٌ لکه: اِكْرَامٌ (عزت کول).

علامه: ددغه باب په ماضي کي د فا کلمې څخه مخکي همزه قطعي زائده او حرف مضارعة يې مضموم وي.

صرف صغیر:

اَكْرَمُ يُكْرِمُ اِكْرَامًا فهو مُكْرِمٌ

واُكْرِمَ يُكْرَمُ اِكْرَامًا فذاک مُكْرَمٌ

لَمْ يُكْرِمْ لَمْ يُكْرَمْ، لَايُكْرِمُ لَايُكْرَمُ

لَنْ يُّكْرِمَ لَنْ يُّكْرَمَ

الامر منه: اَكْرِمْ لِتُكْرَمْ لِيُكْرِمْ لِيُكْرَمْ

والنهی عنه: لَاتُكْرِمْ لَاتُكْرَمْ، لَايُكْرِمْ لَايُكْرَمْ

الظرف منه: مُكْرَمٌ مُكْرِمَانِ مُكْرَمَاتٌ.

(۱) **فائده**: د افعال د باب همزه قطعي ده، يعني نه حذف کېږي، ليکن کله چي دمضارع په واحد متکلم کي دوې همزې سره يو ځای کېدلې، نو د ثقالت له خاطره يوه همزه حذف سوه او د مضارع په پاته صيغو کي طرداً (ددغې صيغې د موافقت) له کبله حذف سوه، ليکن هر کله چي په امر حاضر کي د حرف مضارعة د حذف کېدو وروسته دهمزې د راوړلو ضرورت سو، نو هغه حذف سوې همزه بېرته راوړل سوه، لهذا په دغه باب کي د امر حاضر په شروع کي همزه قطعي ده.

(۲) **فائده**: د ثلاثي مجرد بابونو څخه علاوه بابونه د اسم اله او اسم تفضيل مخصوصي صيغې نه لري او د اسم ظرف صيغې يې د هغه باب داسم مفعول پر وزن راځي.

د اِفْعَالٌ د باب نور مصدرونه

اَلْاِسْلامُ (اطاعت)	اَلْاِذْهَابُ (بېول)	اَلْاِقْبَالُ (مخ اړول)
اَلْاِعْلَانُ (ښکاره کول)	اَلْاِخْرَاجُ (ايستل)	اَلْاِرْسَالُ (لېږل)
اَلْاِطْعَامُ (ډوډۍ خوړل)	اَلْاِصْلَاحُ (اصلاح کول)	اَلْاِنْذَارُ (وېرول)

(۲) باب تَفْعِيْلٌ لکه: تَصْرِيْفٌ (اړول).

علامه: د مصدر څخه علاوه ددغه باب دعين کلمه همېشه مشدده او حرف مضارعة يې مضموم وي.

صرف صغير:

صَرَّفَ يُصَرِّفُ تَصْرِيْفًا فهو مُصَرِّفٌ

وصُرِّفَ يُصَرَّفُ تَصْرِيْفًا فذاک مُصَرَّفٌ

لَمْ يُصَرِّفْ لَمْ يُصَرَّفْ، لَايُصَرِّفُ لَايُصَرَّفُ

لَنْ يُّصَرِّفَ لَنْ يُّصَرَّفَ

الامر منه: صَرِّفْ لِتُصَرَّفْ، لِيُصَرِّفْ لِيُصَرَّفْ

والنهی عنه: لَاتُصَرِّفْ لَاتُصَرَّفْ، لَايُصَرِّفْ لَايُصَرَّفْ

الظرف منه: مُصَرَّفٌ مُصَرَّفَانِ مُصَرَّفَاتٌ.

د تَفْعِيْلٌ د باب نور مصدرونه

اَلتَّعْظِيْمُ (عزت کول)	اَلتَّبْلِيْغُ (رسول)	اَلتَّعْلِيْمُ (ښو ونه کول)
اَلتَّسْلِيْمُ (سلام ويل)	اَلتَّسْبِيْحُ (پاکي بيانول)	اَلتَّرْكِيْبُ (يو ځای کول)
اَلتَّقْسِيْمُ (وېش کول)	اَلتَّفْسِيْرُ (واضح کول)	اَلتَّحْدِيْثُ (خبر بيانول)

(۳) باب مُفَاعَلَةٌ لکه: مُضَارَبَةٌ[1] (یو تر بله وهل).

علامه: په ماضي کي د فاء کلمې وروسته الف زائده وي او حرف مضارعة يې مضموم وي.

صرف صغير:

ضَارَبَ يُضَارِبُ مُضَارَبَةً فهو مُضَارِبٌ

وضُوْرِبَ يُضَارَبُ مُضَارَبَةً فذاک مُضَارَبٌ

لَمْ يُضَارِبْ لَمْ يُضَارَبْ، لَايُضَارِبُ لَايُضَارَبُ

لَنْ يُّضَارِبَ لَنْ يُّضَارَبَ

الامر منه: ضَارِبْ لِتُضَارَبْ، لِيُضَارِبْ لِيُضَارَبْ

والنهی عنه: لَاتُضَارِبْ لَاتُضَارَبْ، لَايُضَارِبْ لَايُضَارَبْ

الظرف منه: مُضَارَبٌ مُضَارَبَانِ مُضَارَبَاتٌ.

د (مُفَاعَلَةٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْمُسَابَقَةُ(یو تر بله مخته کېدل)	اَلْمُذَاكَرَةُ (خپل مینځي یادول)	اَلْمُجَادَلَةُ(یو دبله جګړه کول)
اَلْمُخَاطَبَةُ(یو دبله خبري کول)	اَلْمُدَاهَنَةُ (یو دبله نرمي کول)	اَلْمُعَاهَدَةُ (یو دبله وعده کول)
اَلْمُشَاكَلَةُ(یو دبله هم شکل کېدل)	اَلْمُسَاهَمَةُ(قرعه کشي کول)	اَلْمُشَاوَرَةُ(یو دبله مشوره کول

[1]: دمفاعلة بل مصدر فِعَالٌ دی

(۴) باب تَفَعُّلٌ لکه: تَعَلُّمٌ (زده کړه کول)

علامه: په ټولو ګردانونو کي د فاء کلمې څخه د مخه تا زائده وي او د عين کلمه يې مشدده وي.

صرف صغير:

تَعَلَّمَ يَتَعَلَّمُ تَعَلُّمًا فهو مُتَعَلِّمٌ

وتُعُلِّمَ يُتَعَلَّمُ تَعَلُّمًا فذاک مُتَعَلَّمٌ

لَمْ يَتَعَلَّمْ لَمْ يُتَعَلَّمْ، لَايَتَعَلَّمُ لَايُتَعَلَّمُ

لَنْ يَّتَعَلَّمَ لَنْ يُّتَعَلَّمَ

الامر منه: تَعَلَّمْ لِتُتَعَلَّمْ، لِيَتَعَلَّمْ لِيُتَعَلَّمْ

والنهی عنه: لَاتَتَعَلَّمْ لَاتُتَعَلَّمْ، لَايَتَعَلَّمْ لَايُتَعَلَّمْ

الظرف منه: مُتَعَلَّمٌ مَتَعَلَّمَانِ مُتَعَلَّمَاتٌ.

د (تَفَعُّلٌ) د باب نور مصدرونه

اَلتَّبَسُّمُ (تبسم کول)	اَلتَّفَكُّهُ (مېوه خوړل)	اَلتَّلَبُّثُ (ځنډ کول)
اَلتَّقَدُّسُ (پاک کېدل)	اَلتَّقَرُّبُ (نژدې کېدو طلب)	اَلتَّعَجُّلُ (تلوار کول)
اَلتَّفَكُّرُ (فکر کول)	اَلتَّبَرُّكُ (برکت حاصلول)	اَلتَّجَرُّدُ (بوازي کېدل)

(۵) باب تَفَاعُلٌ لکه: تَنَاسُبٌ (یو دبله ورته والی).

علامه: د فاء کلمې څخه مخکې تا زائده او وروسته الف زائده وي.

صرف صغیر:

تَنَاسَبَ يَتَنَاسَبُ تَنَاسُبًا فهو مَتَنَاسِبٌ

وتُنُوْسِبَ يُتَنَاسَبُ تَنَاسُبًا فذاک مُتَنَاسَبٌ

لَمْ يَتَنَاسَبْ لَمْ يُتَنَاسَبْ، لَايَتَنَاسَبُ لَايُتَنَاسَبُ

لَنْ يَّتَنَاسَبَ لَنْ يُّتَنَاسَبَ

الامر منه: تَنَاسَبْ لِتُتَنَاسَبْ، لِيَتَنَاسَبْ لِيُتَنَاسَبْ

والنهی عنه: لَاتَتَنَاسَبْ لَاتُتَنَاسَبْ، لَايَتَنَاسَبْ لَايُتَنَاسَبْ

الظرف منه: مُتَنَاسَبٌ مُتَنَاسَبَانِ مُتَنَاسَبَاتٌ.

د (تَفَاعُلٌ) د باب نور مصدرونه

التَّخَافُتُ (یودبله پټې خبرې کول)	التَّفَاخُرُ (یو پر بل فخر کول)	التَّعَارُفُ (یو له بله پېژندل)
التَّسَامُحُ (یود بله نرمي کول)	اَلتَّكَاثُرُ (په ډېر مال فخر کول)	التَّبَاعُدُ (یو له بله لیرې کېدل)
التَّنَاسُلُ (نسل نیول)	التَّبَاغُضُ (خپل منځ کې دښمني کول)	التَّمَاثُلُ (یو دبل په شان کېدل)

(۶) باب اِفْتِعَالٌ لکه: اِکْتِسَابٌ (شئ حاصلول).

علامه: په ماضي کي د فاء کلمې څخه مخکي همزه وصلي او وروسته تا زائده وي.

صرف صغير:

اِکْتَسَبَ يَکْسِبُ اِکْتِسَابًا فهو مُکْتَسِبٌ

واُکْتُسِبَ يُکْتَسَبُ اِکْتِسَابًا فذاک مُکْتَسَبٌ

لَمْ يَکْتَسِبْ لَمْ يُکْتَسَبْ، لَايَکْتَسِبُ لَايُکْتَسَبُ

لَنْ يَّکْتَسِبَ لَنْ يُّکْتَسَبَ

الامر منه: اِکْتَسِبْ لِتُکْتَسَبْ، لِيَکْتَسِبْ لِيُکْتَسَبْ

والنهی عنه: لَاتَکْتَسِبْ لَاتُکْتَسَبْ، لَايَکْتَسِبْ لَايُکْتَسَبْ

الظرف منه: مُکْتَسَبٌ مُکْتَسَبَانِ مُکْتَسَبَاتٌ.

د (اِفتِعَالٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْاِجْتِنَابُ (پرهېز کول)	اَلْاِجْتِمَاعُ (سره جمع کېدل)	اَلْاِعْتِدَالُ (برابرېدل)
اَلْاِفْتِتَاحُ (خلاصول)	اَلْاِسْتِمَاعُ (اورېدل)	اَلْاِقْتِصَادُ (ميانه روي کول)
اَلْاِنْتِصَارُ (بدله اخيستل)	اَلْاِشْتِرَاطُ (شرط اېښو ول)	اَلْاِغْتِسَالُ (غسل کول)

(۷) باب اِنْفِعَالٌ لکه: اِنْصِرَافٌ (اوبنتل).

علامه: دماضي په اول کي همزه وصلي زائده وي او د فاء کلمې څخه مخکي نون زائده وي.

خاصه: دا باب لازم دی.

حروف اصلي يې درې دي: (ص، ر، ف).

صرف صغير:

اِنْصَرَفَ يَنْصَرِفُ اِنْصِرَافًا فهو مُنْصَرِفٌ

لَمْ يَنْصَرِفْ لَايَنْصَرِفُ، لَنْ يَّنْصَرِفَ

الامر منه: اِنْصَرِفْ لِيَنْصَرِفْ

والنهی عنه: لَاتَنْصَرِفْ، لَايَنْصَرِفْ

الظرف منه: مُنْصَرَفٌ مُنْصَرَفَانِ مُنْصَرَفَاتٌ.

د (اِنْفِعَالٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْاِنْكِشَافُ (ښکاره کېدل)	اَلْاِنْفِرَادُ (يوازي کېدل)	اَلْاِنْفِصَالُ (جلاکېدل)
اَلْاِنْبِسَاطُ (خوشحاله کېدل)	اَلْاِنْفِطَامُ (د ماشوم شيدې پرېښو ول)	اَلْاِنْشِرَاحُ (خلاصېدل)
اَلْاِنْهِدَامُ (نړېدل)	اَلْاِنْفِجَارُ (بهېدل)	اَلْاِنْخِفَافُ (سپک کېدل)

(۸) باب اِسْتِفْعَالٌ لکه: اِسْتِغْفَارٌ (بخښنه غوښتل).

علامه: د ماضي په شروع کي يې درې حرفه (همزه، س، تِ) زائده وي.

حروف اصلي يې درې دي: (غ، ف، ر).

صرف صغير:

اِسْتَغْفَرَ يَسْتَغْفِرُ اِسْتِغْفَارًا فهو مُسْتَغْفِرٌ

واُسْتُغْفِرَ يُسْتَغْفَرُ اِسْتِغْفَارًا فذاک مُسْتَغْفَرٌ

لَمْ يَسْتَغْفِرْ لَمْ يُسْتَغْفَرْ، لَا يَسْتَغْفِرُ لَا يُسْتَغْفَرُ

لَنْ يَّسْتَغْفِرَ لَنْ يُّسْتَغْفَرَ

الامر منه: اِسْتَغْفِرْ لِتُسْتَغْفَرْ، لِيَسْتَغْفِرْ لِيُسْتَغْفَرْ

والنهی عنه: لَا تَسْتَغْفِرْ لَا تُسْتَغْفَرْ، لَا يَسْتَغْفِرْ لَا يُسْتَغْفَرْ

الظرف منه: مُسْتَغْفَرٌ مُسْتَغْفَرَانِ مُسْتَغْفَرَاتٌ.

د (اِسْتِفْعَالٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْاِسْتِغْفَارُ (بخښنه غوښتل)	اَلْاِسْتِمْتَاعُ (ګټه اخيستل)	اَلْاِسْتِخْلَافُ (نائب درول)
اَلْاِسْتِحْكَامُ (محکم کېدل)	اَلْاِسْتِفْهَامُ (د پوه کېدو طلب کول)	اَلْاِسْتِكْبَارُ (غرور کول)
اَلْاِسْتِخْدَامُ (خدمت کول)	اَلْاِسْتِشْهَادُ (شاهدغوښتل)	اَلْاِسْتِطْعَامُ (خوراک غوښتل)

(۹) باب اِفْعِلَالٌ لکه: اِحْمِرَارٌ (سور کېدل).

علامه: دماضي په شروع کي همزه او د لام څخه وروسته د لام همجنس حرف زائده وي.

خاصه: ددغه باب فعلونه زياتره د رنګ يا عيب په معنى سره وي او دغه باب همېشه لازم وي.

صرف صغير:

اِحمَرَّ يَحْمَرُّ اِحْمِرَارًا فهو مُحْمَرٌّ

لَمْ يَحْمَرَّ لَمْ يَحْمَرِّ لَمْ يَحْمَرِرْ، لَايَحْمَرُّ

لَنْ يَّحْمَرَّ

الامر منه: اِحْمَرَّ اِحْمَرِّ اِحْمَرِرْ، لِيَحْمَرَّ لِيَحْمَرِّ لِيَحْمَرِرْ

والنهى عنه: لَاتَحْمَرَّ لَاتَحْمَرِّ لَاتَحْمَرِرْ، لَايَحْمَرَّ لَايَحْمَرِّ لَايَحْمَرِرْ،

الظرف منه: مُحْمَرٌّ مُحْمَرَّانِ مُحْمُرَّاتٌ.

فائده: هغه مضارع چي اخر يې مشدد وي که مضموم العين وه په هغه کي دحروف جازمه د داخلېدو او امر حاضر دجوړېدو پر مهال څلور طريقې جائز دي، لکه: د يَمُدُّ څخه لَمْ يَمُدَّ، لَمْ يَمُدِّ، لَمْ يَمُدُّ، لَمْ يَمْدُدْ او که مضموم العين نه وي، نو بيا په درو طريقو سره ويل کېږي، لکه: يَحْمَرُّ څخه لَمْ يَحْمَرَّ، لَمْ يَحْمَرِّ، لَمْ يَحْمَرِرْ.

د (اِفْعِلَالٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْاَخْضِرَارُ (شين کېدل)	اَلْاِبْيِضَاضُ (سپين کېدل)	اَلْاِسْوِدَادُ (تورېدل)
اَلْاَصْفِرَارُ (ژړ کېدل)	اَلْاِغْبِرَارُ (په دوړو سپېره کېدل)	اَلْاِبْلِقَاقُ (ابلق کېدل)

(١٠) باب اِفْعِيْلَالٌ لکه: اِحْمِيْرَارٌ (کرار کرار زيات سور کېدل).

علامه: د ماضي په شروع کي همزه زائده د لام څخه مخکي الف او د لام څخه وروسته د لام همجنس حرف زائد وي.

خاصه: ددغه باب فعلونه زياتره د رنګ يا عيب په معنى سره وي او دغه باب همېشه لازم وي.

حروف اصلي يې درې دي: (ح، م، ر).

صرف صغير:

اِحْمَارَّ يَحْمَارُّ اِحْمِيْرَارٌ فهو مُحْمَارٌّ

لَمْ يَحْمَارَّ لَمْ يَحْمَارِّ لَمْ يَحْمَارِرْ

لَايَحْمَارُّ، لَنْ يَّحْمَارَّ

الامر منه: اِحْمَارَّ اِحْمَارِّ اِحْمَارِرْ، لِيَحْمَارَّ لِيَحْمَارِّ لِيَحْمَارِرْ

والنهى عنه: لَاتَحْمَارَّ لَاتَحْمَارِّ لَاتَحْمَارِرْ، لَايَحْمَارَّ لَايَحْمَارِّ لَايَحْمَارِرْ،

الظرف منه: مُحْمَارٌّ مُحْمَارَّانِ مُحْمَارَّاتٌ.

د (اِفْعِيْلَالٌ) د باب نور مصدرونه:

اَلْاِدْهِيْمَامُ (تيز تورېدل)	اَلْاِسْمِيْرَارُ (غنم رنګ کېدل)	اَلْاِكْمِيْتَاتُ (تور او سور کېدل)
اَلْاِصْحِيْرَارُ (وابنه وچېدل)		اَلْاِسْحِيْرَارُ (هم راز کېدل)

(۱۱) باب اِفْعِوَّالٌ لکه: اِجْلِوَّازٌ (د اس تېز تلل).

علامه: د ماضي په شروع کي همزه زائده د لام څخه مخکي مشدد واو زائده وي، چي د زائده حروفو تعداد درې کېږي.

خاصه: دا باب لازم دی او په قرانکریم کي نسته.

حروف اصلي يې درې دي: (ج، ل، ذ).

صرف صغير:

اِجْلَوَّذَ يَجْلَوِّذُ اِجْلِوَّاذًا فهو مُجْلَوِّذٌ

لَمْ يَجْلَوِّذْ، لَايَجْلَوِّذُ، لَنْ يَّجْلَوِّذَ

الامر منه: اِجْلَوِّذْ لِيَجْلَوِّذْ

والنهى عنه: لَاتَجْلَوِّذْ لَايَجْلَوِّذْ

والظرف منه: مُجْلَوَّذٌ مُجْلَوَّذَانِ مُجْلَوَّذَاتٌ.

د (اِفْعِوَّالٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْاِعْلِوَّاطُ	اَلْاِخْرِوَّاطُ
داوښ پر غاړه په ځړېدو اوښ ته ختل	د سفر د لاري اوږدېدل

(۱۲) باب اِفْعِيْعَالٌ لکه: اِخْشِيْشَانٌ. (زيږ کېدل)

علامه: د ماضي په شروع کي يې همزه وصليه وي د عين څخه وروسته زائد واو وي او د واو څخه وروسته يو زائده حرف د عين کلمې د جنس څخه وي.

خاصه: دا باب اکثراً لازم استعمالېږي، کله کله متعدي هم

راتللای سي، لکه: اِحْلَوْلَيْتُهُ (ما هغه خوږ وبلی).

حروف اصلي يې درې دي: (خ، ش، ن).

صرف صغير:

اِخْشَوْشَنَ يَخْشَوْشِنُ اِخْشِيْشَانًا فهو مُخْشَوْشِنٌ

لَمْ يَخْشَوْشِنْ، لَايَخْشَوْشِنُ، لَنْ يَّخْشَوْشِنَ

الامر منه: اِخْشَوْشِنْ، لِيَخْشَوْشِنْ

والنهی عنه: لَاتَخْشَوْشِنْ لَايَخْشَوْشِنْ

الظرف منه: مُخْشَوْشَنٌ مُخْشَوْشَنَانِ مُخْشَوْشَنَاتٌ.

د (اِفعِيْعَالٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْاِحْدِيْدَابُ (**پر ملاکړېدل**)	اَلْاِخْرِيْرَاقُ (**د کالو څيرېدل**)
اَلْاِمْلِيْلَاحُ (**د اوبو خوږېدل**)	اَلْاِخْلِيْلَاقُ (**د کالو زړېدل**)

د رباعي بابونه:

د رباعي مجرد يو باب فَعْلَلَةٌ[1] لکه: بَعْثَرَةٌ (پارول يا شنل).

علامه: د فعل ماضي په اوله صيغه کي څلور حروف اصلي دي هيڅ زائده حرف نسته.

حروف اصلي يې څلور دي: (ب، ع، ث، ر).

صرف صغير:

بَعْثَرَ يُبَعْثِرُ بَعْثَرَةً فهو مُبَعْثِرٌ

وبُعْثِرَ يُبَعْثَرُ بَعْثَرَةً فذاک مُبَعْثَرٌ

لَمْ يُبَعْثِرْ لَمْ يُبَعْثَرْ، لَايُبَعْثِرُ لَايُبَعْثَرُ

لَنْ يُّبَعْثِرَ لَنْ يُّبَعْثَرَ

الامر منه: بَعْثِرْ لِتُبَعْثَرْ لِيُبَعْثِرْ لِيُبَعْثَرْ

والنهى منه: لَاتُبَعْثِرْ لَاتُبَعْثَرْ، لَايُبَعْثِرْ لَايُبَعْثَرْ

الظرف منه: مُبَعْثَرٌ مُبَعْثَرَانِ مُبَعْثَرَاتٌ.

د (فَعْلَلَةٌ) د باب نور مصدرونه

اَلدَّحْرَجَةُ (لغړول)	اَلْعَسْكَرَةُ (لښکرتيارول)	اَلْقَنْطَرَةُ (پل جوړول)
اَلْمَضْمَضَةُ (اوبه لغړول)	اَلْزَعْفَرَةُ (په زعفرانو رنګول)	اَلزَّلْزَلَةُ (زلزله کېدل)

[1]: د (فَعْلَلَةٌ) بل مصدر (فعلال) دی.

رباعي مزيد درې بابونه دي:

(١) باب تَفَعْلُلٌ لکه: تَدَحْرُجٌ (لغړول).

علامه: د ماضي په شروع کي تا زائده ده.

حروف اصلي يې څلور دي: (د، ح، ر، ج).

صرف صغير:

تَدَحْرَجَ يَتَدَحْرَجُ تَدَحْرُجًا فهو مُتَدَحْرِجٌ

وتُدُحْرِجَ يُتَدَحْرَجُ تَدَحْرُجًا فذاک مُتَدَحْرَجٌ

لَمْ يَتَدَحْرَجْ لَمْ يُتَدَحْرَجْ، لَايَتَدَحْرَجُ لَايُتَدَحْرَجُ

لَنْ يَّتَدَحْرَجَ لَنْ يُّتَدَحْرَجَ

الامر منه: تَدَحْرَجْ لِتُتَدَحْرَجْ، لِيَتَدَحْرَجْ لِيُتَدَحْرَجْ

والنهى عنه: لَاتَتَدَحْرَجْ لَاتُتَدَحْرَجْ، لَايَتَدَحْرَجْ لَايُتَدَحْرَجْ

الظرف منه: مُتَدَحْرَجٌ مُتَدَحْرَجَانِ مُتَدَحْرَجَاتٌ.

د (تَفَعْلُلٌ) باب نور مصدرونه

اَلتَّبَرْقُعُ (بوغره کول)	اَلتَّبَخْتُرُ (په ناز تلل)	اَلتَّسَرْبُلُ (قميص اغوستل)	اَلتَّزَنْدُقُ (زنديق کېدل)

(۲) باب اِفْعِلاَّلٌ لکه: اِحْرِنْجَامٌ (جمع کېدل).

علامه: د ماضي د فاء کلمې څخه مخکې همزه وصلي او د عين څخه وروسته نون زائد دی.

حروف اصلي يې څلور دي: (ح، ر، ج، م).

صرف صغير:

اِحْرَنْجَمَ يَحْرَنْجِمُ اِحْرِنْجَامًا فهو مُحْرَنْجِمٌ

واُحْرُنْجِمَ يُحْرَنْجَمُ اِحْرِنْجَامًا فذاک مُحْرَنْجَمٌ

لَمْ يَحْرَنْجِمْ لَمْ يُحْرَنْجَمْ، لَايَحْرَنْجِمُ لَايُحْرَنْجَمُ

لَنْ يَّحْرَنْجِمَ لَنْ يُّحْرَنْجَمَ

الامر منه: اِحْرَنْجِمْ لِتُحْرَنْجَمْ، لِيَحْرَنْجِمْ لِيُحْرَنْجَمْ

والنهی عنه: لَاتَحْرَنْجِمْ لَاتُحْرَنْجَمْ

الظرف منه: مُحْرَنْجَمٌ مُحْرَنْجَمَانِ مُحْرَنْجَاتٌ.

د (اِفعِنْلَالٌ) د باب نور مصدرونه

اَلْاِبْرِنْشَاقُ (دخوښۍ څخه غوړېدل)	اَلْاِبْلِنْدَاحُ (د ځای خلاصېدل)
اَلْاِعْرِنْكَاسُ (وربښتان تورېدل)	اَلْاِسْلِنْطَاحُ (پراخېدل اوغوړېدل)
اَلْاِسْلِنْطَآءُ (يو شی ته پورته کېدل ورته کتل)	

(۳) باب اِفْعِلَّالٌ لکه: اِقْشِعْرَارٌ (ریږدېدل یا وریښتان شخ درېدل).

علامه: د ماضي د فاء کلمې څخه مخکي همزه وصلي ده او په اخر کي د لام کلمې همجنس حرف زائد دی.

حروف اصلي يې څلور دي: (ق، ش، ع، ر).

صرف صغير:

اِقْشَعَرَّ يَقْشَعِرُّ اِقْشِعْرَارٌ فهو مُقْشَعِرٌّ

واُقْشُعِرَّ يُقْشَعَرُّ اِقْشِعْرَارٌ فذاک مُقْشَعَرٌّ

لَمْ يَقْشَعِرَّ لَمْ يَقْشَعِرِّ لَمْ يَقْشَعْرِرْ لَمْ يُقْشَعَرَّ لَمْ يُقْشَعَرِّ لَمْ يُقْشَعْرَرْ، لَا يَقْشَعِرَّ لَا يُقْشَعَرَّ

لَنْ يَّقْشَعِرَّ لَنْ يُّقْشَعَرَّ

الامر منه: اِقْشَعِرَّ اِقْشَعِرِّ اِقْشَعْرِرْ لِتُقْشَعَرَّ لِتُقْشَعَرِّ لِتُقْشَعْرَرْ، لِيَقْشَعِرَّ لِيَقْشَعِرِّ لِيَقْشَعْرِرْ، لِيُقْشَعَرَّ لِيُقْشَعَرِّ لِيُقْشَعْرَرْ

والنهى عنه: لَا تَقْشَعِرَّ لَا تَقْشَعِرِّ لَا تَقْشَعْرِرْ لَا تُقْشَعَرَّ لَا تُقْشَعَرِّ لَا تُقْشَعْرَرْ، لَا يَقْشَعِرَّ لَا يَقْشَعِرِّ لَا يَقْشَعْرِرْ، لَا يُقْشَعَرَّ لَا يُقْشَعَرِّ لَا يُقْشَعْرَرْ

الظرف منه: مُقْشَعَرٌّ مُقْشَعَرَّانِ مُقْشَعَرَّاتٌ.

د (اِفْعِلَّالٌ) باب نور مصدرونه

اَلْاِقْمِطْرَارُ (څاڅکي کېدل)	اَلْاِشْمِخْزَارُ (اوږدېدل)
اَلْاِشْفِتْرَارُ (پاش پاش کېدل)	اَلْاِزْمِهْرَارُ (د سترګې سره کېدل)

اَلْاِطْمِئْنَانُ (په سکون کېدل)	

فائده: دا مذکور بابونه ټول مشهور بابونه دي او ځيني نور بابونه شاذ او يا د ملحقاتو په نوم سته، چي د مبتدی طالبانو تر استعداد لوړ معلومېږي، دلته يې فقط دومره ياد آوري کفايت کوي (انشاء الله) نور تفصيل يې د لوړو کتابونو څخه وګورئ.

پاملرنه

ددغه کتاب (الصرف للناشئين) په اړه که هر استاذ محترم ته کومه مشوره وي، کولای سي چي د (مدرسې) د ادارې سره او يا هم د کتاب د مؤلف سره يې شريکه کړي او چونکه ددغه کتاب اوس ابتدايي دوره ده او تصحيح يې مکمله نه ده بشپړه سوې، نو لهذا که کومه غلطي ولري، هغه تلوار او د مؤلف د قاصر فکر نتيجه ده، ستاسو د رافکر کولو څخه وروسته به انشاء الله ضرور اصلاح کېږي.

په احترام

العبد: محمد حسن جان (مدنی) عفا الله عنه

ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم وتب علينا انک انت التواب الرحيم. وصلی الله علی النبی الامی الامين وعلی آله وصحبه اجمعين.

تاريخ الاختتام ۱۴۳۴ هـ ق

پای